

AP Photo/Ahmad Halabisaz

FREEDOM NOW

Hogan Lovells

# په طالبي واکمنۍ کې د خودجوش ولسي خوځښتونو، نن او پرون

جون ۲۰۲۴

freedom-now.org

# محتوا


لنديز 3

I. پرانيسته 5

II. کرنلاره 10

III. د طالبانو په واکمنۍ کې د مدني ټولنې ته ورڅېرمه حقايق 12

IV. د طالبانو په واکمنۍ کې د مدني ټولنې مقررات او قانون 28

V. د افغان مدني ټولنې خونديتوب ته د بشري حقونو نړيوال چارچوب 35

VI. پايلې 38

VII. سپارښتنې 39




### د ليکوالو په اړه

## FREEDOM NOW

Freedom Now په واشنګټن ډي‌سي کې مېشته، يوه غيرانتفاعي، ناپېيلې اداره ده چې له افرادو او ټولنو سره له حکومتي جبر څخه په خلاصون کې مرسته کوي او د مستقيم حقوقي ملاتړ، په لوړه کچه وکالت او ظرفيت‌سازي د اروزنې له لارې د بشري حقونو دفاع کوي.

### هوګن لوولز؛

هوګن لوولز مخکښه نړيواله حقوقي موسسه ده چې تر ۲۶۰۰ زيات وکيلان کار ورسره کوي او په واشنګټن او لندن کې په ګډو دفترونو سربېره، د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې تر ۴۵ زيات دفترونه لري.

د بشپړو حقوقي خدماتو په وړاندې کولو سربېره، د حقوقي شرکتونو لپاره د مالي چارو، نړيوالو مقرراتو، فکري او معنوي ملکيتونو، منځګړتوب او کاري فرصتونو په برخو کې وړيا خدمات د هوګن لوولز له لومړيتوبونو دي.

زموږ وکيلان په دې خاطر چې يوه پراخ نړيوال بدلون ته زمينه مساعده او تر خپله وسه ګټور تمام سي، هر کال څه باندې ۱۶۵۰۰۰ ساعته وړتيا حقوقي خدمات وړاندې کوي.

هوګن لوولز په ۲۰۲۳ کې په بريتانيا کې د وړيا حقوقي همکارۍ په برخه کې له لومړيو دريو ادارو يوه بلل سوې (Law.com International) او په همدې کال د Law36 له لوري بيا د خپلو سيالانو لومړۍ هغه بلل سوې ده.



# لنديز

**د افغانستان مدني ټولنه د ۲۰۰۴ او ۲۰۲۱ مېلادي کلونو تر منځ، د دغه هېواد د مخکېني اسلامي جمهوريت له خوا د راوستل سويو اصلاحاتو له امله نه يوازې وغوړېده، بلکې بې‌ساري وده يې وکړه، خو د ۲۰۲۱ په اګست کې د طالبانو لاس ته د افغانستان له بيا لوېدو سره د بشري حقونو پايمالي پيل او د افغانستان مدني ټولنه وپاشل سوه.**

د دغه راپور موخه د افغانستان په مدني ټولنه کې د راغليو بدلونونو تحليل دی چې په مفصله توګه پکې دريو مهمو برخو (۱) اوسنی ناوړه وضعيت چې طالبانو راوستی (۲) پر مدني ټولنه د دغه وضعيت اغېز او (۳) د مدني فعالانو او خوځښتونو هغو فعاليتونو ته کتنه سوې چې لا هم د طالبانو تر جبر لاندې، د بشري حقونو د ساتنې او پراختيا له پاره دوام ورکوي.

په دې سربېره، دغه راپور نړيوالو ښکېلو اړخونو او تصميم نيوونکيو ته داسې سپارښتنې لري چې له لارې يې دوی کولای سي په اوسني سخت وضعيت کې د ځايي مدني فعالانو او د دوی د فعاليتونو ننګه او ملاتړ وکړي. د دغه راپور څېړنه د افغانستان د اوسنۍ مدني ټولنې په ارزيابي، د اوسنيو او مخکېنيو مدني فعالانو پر مرکو او د مدني ټولنو او نادولتي سازمانونو اړوند، د نړيوالو قوانينو پر ارزيابي ولاړه ده.

په دې سربېره، په هغو موارد کې چې اړتيا يې ليدل سوې ده، د ځينو رسنيو پر راپورونو او مرکو هم تکيه سوې. دغه راپور په ډاګه کوي چې دا مهال د افغانستان مدني ټولنه په يوه سخت حالت کې ګيره ده او همدې وضعيت د چارو او تشکيل دواړو له پلوه له ژورو بدلونونو او ننګوونو سره مخ کړې. پر مدني ټولنه د طالبانو راوستل سويو فشارونو، د بشري حقونو رسمي او سنتي سازمانونه اړ کړي دي چې خپلې چارې ودروی. دا مهال نوي راټوکېدلي سازمانونه د بشري حقونو د دفاع او ملاتړ چارې پر مخ وړي. د راپور لپاره په سوې سروې کې تر لاسه سوي ځوابونه پر لاندې څلورو مهمو موارد و راڅرخي چې د مدني ټولنې چارې يې اغېزمنې کړې دي.

**امنيت او خونديتوب:**
د مدني بنسټونو ډېری پوښتل سويو کسانو په خپلو څرګندونو کې د طالبانو له خوا له زندانه نيولې، تر وژلو پورې وېره څرګنده کړې ده. د مدني بنسټونو او فعالانو د نه خونديتوب او ګواښل کېدو له امله ډېرو هغو ادارو چې په افغانستان کې يې د بشري حقونو ساتنې او پالنې ته کار کاوه، خپلې چارې محدودې کړې دي.

**طالبي بنديزونه:**
په ۲۰۲۱م کې واک ته د طالبانو تر بيا رسېدو وروسته، بېلابېل هغه بنسټونه، ادارې او مدني فعالان چې پخوا يې د بشري حقونو د ساتنې، د زده‌کړو د پراختيا او ورته نورو برخو لپاره کار کاوه، د طالبانو د بنديزونو او خنډونو له امله داسې حال ته رسېدلي دي چې اوس خپله د ملاتړ او پاملرنې په لټه کې دي.

**اقتصادي مشکلات:**
تر ۲۰۲۱ مخکې د افغانستان مدني بنسټونو او ادارو هم کورنۍ او هم نړيواله بوديجه لرله چې دوی ورباندې خپلې چارې پر مخ وړې، خو د طالبانو تر واک ته رسېدو وروسته، په سروې سويو ادارو کې هيڅ کومې يوې يې کوم مالي ملاتړ نه دی تر لاسه کړی. دوی يا په محلي کچه په چنده چلېږي، يا خپل مصارف له جېبه ورکوي. د سروې سويو ادارو او بنسټونو له منځه يوازې دوه يې په دې توانېدلي دي چې د غړيتوب د حق او انلاين کمک له لارې خپلې چارې روانې وساتي، خو غوڅ اکثريت يې چې ٪۹۰ کېږي، هيڅ مالي مرسته نه ده تر لاسه کړې ده.

**تداوم او اوږدمهالې وده:**
که څه هم په افغانستان کې لا هم ګڼ شمېر مدني بنسټونه فعال دي، خو سته امنيتي تهديدونو او د يوه دوامدار مالي ملاتړ کمې يې نه يوازې د ودې مخه نيولې، بلکې چارې او فعاليتونه يې هم ورټکنې کړې دي.

- په دغه راپور کې زموږ ځای پر ځای سوې سپارښتنې د ځايي مدني بنسټونو او فعالانو پر هغو اړتیاوو او تجربو ولاړې دي چې په مرکو او مصاحبو کې یې راسره شریکې کړې او موږ یې مخامخ د بسپنه ورکوونکې ټولنې په ګډون، هغو نړیوالو ادارو ته چې لا هم په افغانستان کې حضور لري؛ حکومتونو؛ ملګرو ملتونو او د دوی اړوندو نړیوالو ادارو؛ د افغانستان د مدني ټولنې جلاوطنه غړیو او نړیوالو نادولتي سازمانونو ته وړاندې کوو.

- **بسپنه ورکوونکې ټولنه:**
بسپنه ورکوونکې یا مرستندویې ټولنې ته سپارښتنې په افغان مدني ټولنه کې د راغلیو بدلونونو په پام کې نیولو سره سوې دي چې په اساس یې؛ بسپنه ورکوونکې ټولنه باید په محلي کچه روانو مدني خوځښتونو او فعالیتونو ته په درنه سترګه وګوري او اطمنان تر لاسه کړي ځایي مدني بنسټونه چې ځینې یې ښایي کمه اداري وړتیا ولري، د مالي ملاتړ "ګرانټونو" ته لاسرسی لري.
په دې سربېره باید بسپنه ورکوونکې اداري نه یوازې په افغانستان کې ځایي مدني بنسټونو ته ځانګړې بودیجه په پام کې ونیسي، بلکې د مدني فعالانو رواني درملنې، روغتیا او ارواییي داډ ته هم ځانګړې پاملرنه وکړي

- **هغه نړیوال سازمانونه چې په افغانستان کې حضور لري:**
هغه نړیوال سازمانونه او ادارې چې په افغانستان کې لا هم حضور لري، باید په افغانستان کې دننه مدني فعالانو ته د وړپېښو ګواښونو او اسیبپذیري دقیقه ارزونه وکړي او داسې پالیسیانې جوړې کړي چې دوی ته د وړپېښ خطر کچه حداقل ته را ټیټه کړي.
نادولتي ادارې باید له طالبانو او نړیوالې ټولنې سره په مذاکراتو کې د منزوي سویو ټولنو غږ په سمه توګه پورته کړي او په خپلو پروګرامونو او تصمیم نیونو کې په محلي کچه ښکېلو نهادونو او د مېرمنو په مشرې مدني ټولنو ته د ګډون لومړیتوب ورکړي

- **حکومتونه:**
د نړۍ هغه حکومتونه چې په افغانستان کې د بشري حقونو خوندیتوب او پراختیا غواړي، باید د په کور دننه بنسټونو رول ته ځانګړی ارزښت ورکړي، په تېره بیا د ښځو په مشرۍ هغو خوځښتونو او فعالیتونو ته چې په افغانستان کې د بشري حقونو د ساتنې او ملاتړ په پار کېږي. هغه حکومتونه چې په افغانستان کې له مدني بنسټونو سره مالي کمک کوي، د دې راپور هغو سپارښتنو ته دې جدي پام وکړي چې بسپنه ورکوونکې ټولنې ته وړاندې سوې دي. دوی باید دا یقیني کړي چې کمک یې په افغانستان کې دننه، نویو را ټوکېدلیو مدني بسټونو ته په لاس ورځي. بله مهمه خبره دا ده چې د بشري حقونو ملاتړي حکومتونه باید په افغانستان کې دننه پاتې مدني فعالانو ته چې له طالبانو سره یې ګوزاره نه کېږي، د وتو لاره، وېزه او په درېیمو هېوادونو کې د پاتې کېدو امکانات برابر کړي.

- **ملګري ملتونه:**
ملګرو ملتونو او د دوی همکارو بنسټونو ته په سپارښتنو کې د مدني فعالانو خوندیتوب ته تر بل هر څه لومړیتوب ورکول سوی دی.
ملګري ملتونه باید خپلې سته سرچینې او بشپړه توجه د هغو مدني فعالانو را خوشې کولو ته وقف کړي چې دا مهال د طالبانو په زندانونو کې دي. ملګري ملتونه باید له طالبانو سره د یوناما د تعامل او پالیسۍ جوړولو په موخه، په افغانستان کې دننه د ځایي مدني بنسټونو له غړیو او د افغانانو له بېلابېلو او منتوعو ګروپونو سره د سلا مشورو یوه دوامداره لړۍ پیل کړي.

- **د افغانستان تبعید سوې مدني ټولنه او نړیوالې نادولتي ادارې:**
د افغانستان جلاوطنو مدني بنسټونه او نړیوالو سازمانونو ته په سپارښتنو کې زیات تمرکز په افغانستان کې د نویو راټوکېدلیو مدني بنسټونو پر ملاتړ، همغږي او ظرفیتلوړونې سوی دی. د بشري حقونو تبعید سوي افغان مدافعان او نړیوالې نادولتي ادارې که ورته ممکنه وي، باید په افغانستان کې د مدني ټولنې د پاتې له خطر سره مخ غړیو له پاره د وېزو او له افغانستانه د خوندي وتو لارې چارې ولټوي.

په ټوله کې ویلای سوی چې دا مهال ځایي مدني بنسټونه د مدني فعالیت او ټولنیز ګډون په ډګر کې د مثبت بدلون لپاره حیاتي رول لوبوي. دا د نړیوالې ټولنې مسوولیت دی چې د دوی چارو ته نه یوازې په درنه سترګه وګوري، بلکې جدي یې ونیسي. د نړیوالې ټولنې ملاتړ به نه یوازې د ځایي مدني بنسټونو چارې او فعالیتونه لا ګړندي او اغېزناک کړي، بلکې دا به په نړیواله کچه د بشري حقونو، ټولنیز عدالت او په انساني ټولنو کې د دوامداره پرمختګ راوستو ته لاره هواره کړي. موږ که لاسونه سره ورکړو، کولای سو د ټولو لپاره یو جامع او په مساوات ولاړ راتلونکی ورغوو.





# I. پرانیسته

**په ۲۰۰۱ کې د طالبانو د تېر رژیم تر نسکورېدو وروسته، بیا تر ۲۰۲۱ مېلادي کال پورې چې بیا طالبان واک ته ورسېدل، په افغانستان کې د مدني ټولنو لپاره د حکومتداري، امنیت او بسپنې تر لاسه کولو لپاره ښه زمینه برابره وه چې په پایله کې یې د افغانستان مدني ټولنې د پام وړ وده ورسره وکړه.**

په دغه موده کې د افغانستان اسلامي جمهوریت د بشري حقونو او ازادیو د خوندیتوب په موخه ستر اقدامات وکړل. په دغو برخو کې د دولت بېساری کار د دې لامل سو چې د افغانستان مدني ټولنې د طالبانو د تېر رژیم له جبره له خلاصېدو سره سم، نه یوازې د ارام ساه واخیسته، بلکې وغوړېده. په دغه موده کې له راوستل سویو بدلونونو، د پام وړ یې ښځو او قومي لږکیو ته په ټولنیز ژوند کې د ګډون حق، د ښوونې او روزنې، ټولنې او کاري ژوند په برخو کې مساوات او ګڼ شمېر نور داسې فعالیتونه او اقدامات ول چې د یوې باثباته او هوسا مدني ټولنې لپاره اړین دي.

د کابل له سقوط او پر افغانستان د طالبانو له بیاځلي مسلطېدو سره، افغان مدني ټولنه یو وار بیا له جبر او محدودیتونو ډک حالت سره مخ سوه.

افغان مدني ټولنې په ځانګړې توګه د ښځو او منزوي قومي لږکیو پر مدني او سیاسي ازادیو باندې د طالبانو د نویو محدودیتونو په غبرګون کې، هم د جوړښت او هم د فعالیتونو په اساس، د پام وړ بدلونونه په ځان کې راوستل.



**ځينو مدني ټولنو د هغو ښځو مستقيم حقوقي ملاتړ کاوه چې له کورني تاوتريخوالي سره مخ وې. ځينو نورو بيا د دغو مېرمنو د سر پنا او امن ځای غم خوړ، خو د طالبانو تر بيا راګرځېدو وروسته دا هر څه له منځه لاړل. هغه مېرمنې چې اوس تر بل هر وخت دغسې همکارۍ، ملاتړ او مرستې ته اړتيا لري، تکې تنها له يو عالم ستونزو سره لاس و ګرېوان پاتې دي. د افغانستان ښځې اوس حتا نه په خپلو کورو کې په امن دي، نه د باندې د ورتګ ځای لري.**

يوه مدني فعاله

په ۲۰۰۱ مېلادي کال کې پر افغانستان د امريکا په مشرۍ د نړيوال ايتلاف تر ولکې او په ۱۹۹۶ کې واک ته د رسېدلي پنځه کلن طالبي رژيم تر نسکورېدو وروسته، د افغانستان اسلامي جمهوريت په خپله شل کلنه دوره کې چې په عين وخت کې له طالبانو سره په جګړه هم بوخت و، د ډيموکراتيکو بنسټونو رغولو، د رسنيو ازادۍ، د مدني بنسټونو او يوې ازادې ټولنې جوړولو ته متې رابډوهلې.

د افغانستان د تېر جمهوري نظام په واکمنۍ کې ښځو او قومي لږکيو ګڼ حقونه او ازادۍ ترلاسه کړې.[1] د همدې نظام له برکته له ۲۰۰۴ تر ۲۰۲۱ پورې په افغانستان کې په منظمه توګه پارلماني او ولسمشريزې ټاکنې کېدې چې يوازې د ۲۰۰۴ په ټاکنو کې تر ۱۰ميليونو زياتو افغانانو چې ۴۱٪ يې ښځې وې، په ولسمشريزو او پارلماني ټاکنو کې برخه اخيستو ته نومليکنه کړې وه. په ۲۰۰۵ کې دغه شمېرې لا لوړې سوې او ۱۲.۵ ميليونو ته ورسېدې، خو د ناامنيو له امله د دغو خلکو يوې لويې برخې په ټاکنو کې رايې و نه کارولای سوای. په ۲۰۰۹ مېلادي کال کې د افغانستان د پارلمان ۶۵ څوکۍ ښځو ته ځانګړې سوې وې چې په دې توګه افغانستان د نړۍ په کچه اته ويشتم هېواد و چې په پارلمان کې يې د ښځو استازولي غوښتنه وه.[2] د ۲۰۱۸ مېلادي کال په پارلماني ټاکنو کې تر ۴۰۰ زياتې افغانې مېرمنې د پارلمان څوکيو ته نوماندې وې او د هېواد ۳۴٪ ښځينه نفوس په ټاکنو کې د رايې ورکولو لپاره ځانونه رجسټر کړي وو.

### په افغانستان کې د رايه ورکوونکيو نومليکنه:




### په ۲۰۰۴م کې په پارلمان کې د ښځينه څوکيو شمېر:




**د ۲۰۱۸م په پارلماني ټاکنو کې تر ۴۰۰ زياتې مېرمنې د پارلمان څوکيو ته کانديدانې وې.**

په ټاکنو کې د ګډون په پار د ثبت سويو افغانانو ٪۳۴ يې ښځې وې.



**په ۲۰۲۱ کې دويم ځل واک ته د طالبانو تر رسېدو مخکې، د افغانستان د حقوقي سيسټم د پياوړتيا په برخه کې پراخ کار د افغانستان د مدني ټولنې له لويو لاسته‌راوړنو بلل کېده. په دغه موده کې په ځانګړې توګه د هغو قوانينو د تقويې لپاره هڅې وسوې چې د ښځو د حقونو پر خونديتوب يې تمرکز کاوه. د بېلګې په توګه د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي قانون، د کورنۍ قانون مسوده، او حقوقي خدماتو ته د ښځو د لاسرسي قانون. د ښځو لپاره د حقوقي خدمتونو په برخه کې د واده او طلاق ثبتول بله مهمه لاسته راوړنه وه چې مدني ټولنو يې ملاتړ وکړ (او په پلي کولو يې بريالي سول.) دغو ټولو قوانينو او طرزالعملونو د هغو ښځو ژوند ساته چې له کورني تاوتريخوالي سره مخ وې.**

مدني فعاله

هغه مهال د افغانستان پارلمان په خپله په سياسي ډګر کې د ښځو د ښکېلتيا او ګډون يوه غوره نمونه وه. په دغه موده کې په ټاکنو کې په دومره زيات شمېر د رايې ورکوونکيو او کانديدانو ګډون په خپله دا ثبتوي چې د طالبانو تر بيا راتګ مخکې، وضعيت څومره ښه و. په دې سربېره، د افغانستان د جمهوري نظام د واکمنۍ پر مهال د بېلابېلو سياسي ډلو تر منځ د ايتلاف جوړولو توکميزو لږکيو ته هم په حکومت کې د استازيتوب فرصت برابر کړی و. دغې چارې د افغانستان د شيعه مسلمانانو په څېر د کوچنيو ډلو غږ ته هم په ملي کچه انعکاس ورکاوه. د تېر جمهوري حکومت د هڅو پايله دا سوه چې د ښځو او قومي لږکيو استازيتوب اسانه او يقيني سو، بېلابېلو داسې ډلو ته چې د طالبانو د تېر رژيم په واکمنۍ کې له پامه غورځول سوې وې، دا زمينه برابره سوه چې غږ يې تر نړۍ ورسېږي، د ټاکنو له لارې سياسي حضور ومومي او په دې سربېره، د رايې په کارولو د ځان او وطن برخليک وټاکي.[3] د افغانستان د پرځول سوي جمهوري دولت په واکمنۍ کې دغه هېواد نه يوازې په سياسي ډګر کې پرمختګ وکړ، بلکې هلته د ښځو او نجونو د زده‌کړو په برخه کې هم د پام وړ چټک پرمختګونه وسول. د جمهوريت په شلو کالو کې "د هېواد په ليرې پرتو سيمو کې نجونو ښوونځيو ته د تګ چانس وموند. مېرمنې په دولتي او خصوصي پوهنتونونو کې له ښکليو هنرونو نيولې، تر طب، ادبياتو او انجينري پورې ټولو پوهنځيو ته تلای سوای. تر ۲۰۲۱ پورې، د افغانستان د پارلمان ٪۲۷ او د حکومت د ملکي کارکوونکيو ٪۲۱ ښځې وې."[4] د افغانستان د جمهوري نظام په چوکاټ کې، په ښوونځيو کې د شاملېدونکيو زده‌کوونکيو شمېر هم په حيرانوونکې توګه مخ په بره روان و. که څه هم په دغه موده کې د طالبانو تر واک لاندې سيمو کې د نجونو پر زده‌کړو د اوس په څېر بنديزونه ول، خو د حکومت په تر واک لاندې سيمو کې په حکومتي کچه د ښځو د زده‌کړو او کار ملاتړ کېده.[5]

د افغانستان د شل کلن اسلامي جمهوريت د واک په موده کې مدني ټولنو بېلابېلې بڼې خپلې کړې او پرېمانه حياتي خدمات يې ټولنې ته وړاندې کړل. د مدني ټولنو په دغو فعاليتونو کې حقوقي ملاتړ، اروايي ډاډ، درملنه، د کورني تاوتريخوالي قرباني مېرمنو ته د سر پنا غم خوړل او د ښځو د زده‌کړو لپاره پراخې هڅې شاملې وې. له ۲۰۰۰ مېلادي کال څخه تر ۲۰۱۴ پورې، په افغانستان کې د نادولتي موسسو ويړتيا ته په يوه هر اړخيزه کتنه کې، په دغه موده کې په افغانستان کې د ۸۹۱ فعالو نادولتي موسسو د چارو په اړه مالومات خپاره سوي دي، چې ډېرېو يې د پوهنې، روغتيا او حرفه‌اي زده‌کړو په برخو کې کار کاوه.

د ۲۰۲۱ کال مالومات ښيي چې دغه کال، په يوه وخت، د نارسمي بنسټونو، او محلي شوراګانو په ګډون، په افغانستان کې تر اووه سوه زياتو نادولتي موسسو د فعاليت جوازونه درلودل. د ۲۰۰۲ او ۲۰۲۱ کلونو تر منځ، په افغانستان کې د يوې متحريکې مدني ټولنې پراختيا او پرمختګ په دغه موده کې د نړيوالې ټولنې او افغان حکومت يوه له لويو لاسته راوړنو بلل کېده. په ۲۰۱۸ کې ۱۸۶۳ نادولتي موسسو د فعاليت جوازونه تر لاسه کړي و چې د ۸۷۶ ميليونه ډالرو په ارزښت يې تر دوه نيم زره زياتې پروژې پر مخ وړې. د دغو پروژو ٪۶۹ يې د افغانستان د کورنيو نادولتي موسسو له خوا پلي کېدې. په دغو موسسو سربېره، بې شمېره نارسمي شوراګانې، بنسټونه او رضاکار ګروپونه فعال ول چې ټولو د بشري حقونو د ساتنې، ټولنيز مساوات او عدالتي پراختيا لپاره کار کاوه.



د افغانستان د مدني ټولنې د ویړتیا او پراختیا دا ټول داستان په ۲۰۲۱ کې د طالبانو لاس ته د کابل له لوېدو سره سم ختم سو. طالبانو د ۲۰۲۱ د اګسټ پر پنځلسمه د افغانستان مخکېنی جمهوري نظام سقوط کړ چې ورسره هماغه ورځ سلګونه زره افغانان وطن پرېښودو ته مجبوره سول. د ولسمشر غني په ګډون لوړپوړي حکومتي چارواکي له افغانستانه وتښتېدل او څو ساعته وروسته طالبانو ځان د افغانستان فاتحان اعلان کړل. له دې سره د افغانستان مدني ټولنه هم سقوط سوه او دا مهال یوازې د ګوتو په شمېر ځینې اداري او څو نوي راټکېدلې مدني خوځښتونه خال خال فعالیتونه لري.

سره له هغو ټولو ګواښونو چې په افغانستان کې د ځایي مدني بنسټونو غړي ورسره مخ دي، مګر بیا هم په رضاکارانه توګه د طالبانو د جبر د ختمولو او د انساني حقونو د خوندیتوب لپاره هڅې کوي. د طالبانو له خوا په ښځینه سویو وژنو، اقتصادي ستونزو او بېلابېلو نورو خنډونو د دوی چارې پڅې کړې دي او ځینو ادارو خو له مجبورۍ خپلې چارې لغوه اعلان کړې. په محلي کچه مدني ټولنې او بنسټونه د ښځو د حقونو، ټولنیز عدالت او د نجونو د زدهکړو د ودې لپاره، تر نورو ډېر اغېزناک او مهم رول لوبوي.

دغه راپور هغه ډراماټیک بدلونونه راسپړي چې د افغانستان مدني ټولنه ورسره د ۲۰۲۱ تر اګسټ وروسته مخ سوې او د هغو مدني فعالانو پر تجربو ولاړ دی چې لا هم په افغانستان کې دننه ژوند کوي. په راپور کې هغه لارې چارې روښانه سوې چې په اساس یې د مدني ټولنې فعالانو له نویو ورپېښو ننګوونو سره غاړه وړې او د طالبانو تر جبر لاندې یې هم، د ټولنیز عدالت او بشري حقونو د ملاتړ په موخه، خپلو چارو ته دوام ورکړی دی. د طالبانو تر بیا واک ته رسېدو وروسته، د دوی تر جبر لاندې د راټوکېدلیو مدني بنسټونو د یوه روښانه انځور په وړاندې کولو، د هغو خنډونو او ننګونو په ګوته کولو چې دا مهال د افغانستان مدني فعالانې او فعالان ورسره مخ دي او د هغو بدلونونو په روښانه کولو سره چې د طالبانو تر واکمنۍ وروسته د افغانستان په مدني ټولنه کې راغي، دا راپور د دې جوګه دی چې نړیوالې ټولنې ته داسې ابزار په لاس ورکړي چې په واسطه یې دوی د په کور دننه فعلانو ملاتړ وکړي او دا یقیني کړي چې هغوی کولای سي خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي.

دغه راپور په لاندې پنځو برخو وېشل سوی؛ راتلونکې یا دویمه برخه یې د څېړنې کړنلارې ته ځانګړې سوې. درېیمه یې په افغانستان کې د مدني ټولنې تشکیلاتي جوړښت او د هغوی د کار پر وړاندې مهم خنډونه څېړي. څلورمه برخه یې هغه لارې چارې لټوي چې د طالبانو تر واکمنۍ لاندې په یوه تړلي چاپېریال کې د افغان مدني ټولنې چارو ته بڼه او لوری ورکوي. د راپور پنځمه برخه د طالبانو د حکومت هغه نړیوال حقوقي مکلفیتونه ارزوي چې د مدني ټولنې پر وړاندې یې لري او د راپور وروستۍ یا شپږمه برخه یې سپارښتنو ته ځانګړې سوې ده چې موخې یې په افغانستان کې د ننه د مدني فعالانو او بنسټونو وده او خوندیتوب دي. د دغه راپور سپارښتنې د بېلابېلو کلیدي فعالانو په ګډون، د بسپنه ورکوونکې ټولنې، هغو نړیوال سازمانونو چې لا هم په افغانستان حضور لري، اړوندو حکومتونو، ملګرو ملتونو او جلاوطنې افغان مدني ټولنې ته وړاندې کېږي.


AWPMC





# ځایي مدني ټولنه څه ته وایي؟

په دې راپور کې بیا بیا د ځایي مدني ټولنو یادونه په دې خاطر سوې ده چې یوه مدني ټولنه، د هغې غړي او فعالیتونه یې په ټولیزه توګه تشریح کړي. له ځایي مدني ټولنې څخه د دغه راپور موخه د افرادو یا ډلو هغه منظمې ډلهییزې هڅې دي چې د خپلې سیمې او منطقې په کچه یې د یوه ټولنیز، سیاسي یا اقتصادي بدلون راوستلو په پار کوي. موږ په دې راپور کې د دوی پر هغو اساسي او بنسټیزو خوځښتونو تمرکز کوو چې د طالبانو د واکمنېدو له امله د ټولو مدني بنسټونو تر نړېدو وروسته، لا هم خال خال فعال دي.

د ملګرو ملتونو د وضعه کړل سوي تعریف په اساس، ځایي مدني ادارې او بنسټونه له ملکي خلکو جوړ سوي هغه خوځښتونه او بنسټونه دي چې د خپلې ټولنې د اړتیاوو او ضرورتونو په اساس، په محلي، ملي یا نړیواله کچه بدلون راوستو ته کار کوي. ادارې او بنسټونه په دغسې خوځښتونو کې له کښته پورته، یا د محل په کچه رازغونېږي او بیا پراختیا مومي. د دوی د عدالت غوښتنې مبارزه بېلابېلې بڼې لري چې له سولهییزو لاریونونو او غونډو نیولې، تر مستقیم اقدام او مدني نافرماني پورې حرکتونه او فعالیتونه په ځان کې رانغاړي. اکثره ډلې او ګروپونه د ملاتړ او توجه د جلب په موخه له همدې تکتیک څخه په استفاده، له کور په کور ګرځېدو نیولې، پر ټولنیزو رسنیو تر کمپاینونو او چندې ټولولو پورې بېلابېل فعالیتونه کوي چې خپلو موخو ته ورسېږي.

پر افغانستان د طالبانو د بیا واکمنېدو له امله د رسمي مدني جوړښتونو له نړېدو سره، د هېواد په بېلابېلو برخو کې د ولسي خلکو له خوا د سولهییز مقاومت کوچنۍ ډلې او ځایي مدني بنسټونه را وټوکېدل چې پر خلکو د روان جبر په اړه عامه پوهاوی خپور او پر وړاندې یې مدني مبارزه وکړي. دوی تر یوې اندازې د خپلو فعالیتونو په مټ د طالبانو هغه هڅې له خنډ سره مخ کړې چې غوښتل یې له نیوکو او انتقاد څخه د ځان د خلاصون په موخه رجسټر سوې نادولتي موسسې وتړي، ځکه دغو ادارو د طالبانو پر وړاندې د اپوزیشن رول لوباوه. په افغانستان کې دغه نوي را ټوکېدلي مدني ګروپونه پر بېلابېلو برخو تمرکز کوي چې د بشري حقونو له دفاع نیولې، د ښځو د حقونو تر ملاتړ، مساوات، زدهکړو ته د ټولو تر برابر لاسرسي او د طالبانو د جبر له امله د پاشل سوي مدني چاپېریال د بیا جوړولو هڅې په ځان کې رانغاړي. د ښځو پر کار او د دوی په مشري پر ادارو د طالبانو تر بندیزونو وروسته د دغو نویو راټوکېدلیو بنسټونه چارې لا مهمې سوې دي او دا مهال په افغانستان کې د ټولنیز عدالت او د ښځو د حقونو د ساتنې په برخه کې خورا اغېزناک رول لوبوي.

# II. کړنلاره

**Freedom Now او د راپور ليکوالانو Hogan Lovells په افغانستان کې د مدني ټولنې د اوسني وضعيت په اړه د باوري او موثقو مالوماتو راټولولو په موخه پراخې څېړنې وکړې.  موږ د دغه راپور د چمتو کولو پر مهال، کره شمېرو او دقيقو مالوماتو ته د ښه لاسرسي په موخه له ليکوالانو، بېلابېلو ډلو او په هېواد کې دننه د مدني حرکتونو د فعالانو په شمول د افغانستان د جلاوطنې مدني ټولنې له بېلابېلو غړيو سره مرکې کړې دي.  زموږ ليکوالانو په دې خاطر چې راټول کړي مالومات يې متنوع او په افغانستان کې د بېلابېلو ټولنو استازيتوب په سمه توګه وکولای سي، د سروې برخه‌وال د هغو موضوعاتو په اساس چې دوی تمرکز ورباندې کاوه، د دوی د سيمو او ټولنو په نظر کې نيولو سره چې دوی ټړاو ورسره لري، وټاکل.**

د دغې سروې ګډونوال چې ډېری يې د رسمي او نارسمي سازمانونو مشران دي، په مختلفو برخو کې فعاليتونه کوي.  دوی د محرومو ټولنو د اړتياوو او ننګوونو په ګډون، د ښځو د حقونو، د منزوې سويو توکمونو او مذهبي لږکيو د حقونو، بېلابېلو ډلو، کلتوري ټولنو او نورو افغانانو د حقونو او بشري مرستو ته د ټولو د عادلانه لاسرسي لپاره کار کوي. د سروې ګډونوال په دې سربېره، د هغو نجونو د لاسنيوي په خاطر چې طالبانو يې ښوونځي تړلي دي، د تعليمي فرصتونو په برابرولو، د ظرفيت لوړونې پروګرامونو په جوړولو، لاريونونو تنظيمولو او په پټه د کتابونو چاپولو او وېشلو سره د بشري حقونو د ساتنې او پالنې پر نورو لارو چارو او فعاليتونو بوخت دي.  د راپور د چارو د لا ښه تنظيم او اسانې او د ژبنيزو توپيرونو او خنډونو د له منځه وړو په موخه، د سروې پوښتنليک په پښتو او دري دواړو ژبو چمتو سوی و.  د سروې د پوښتنو برخې له ساده څو ځوابه يا هو/نه پوښتنو څخه نيولې، تر داسې پوښتنو پورې درلودې چې ځوابوونکي يې کولای سوای په ځواب کې پراخ توضيحات او مالومات وړاندې کړي.





AP Photo/Ahmad Halabisaz



دغه پوښتنليک څېړونکيو ته نه يوازې دا زمينه مساعده کړې وه چې پوه سي، کومې ساحې په راټلونکيو مرکو کې لا ډېرې پلټنې ته اړتيا لري، بلکې په دې سربېره يې د ځواب ويونکيو په اړه بېلابېل مالومات لکه د دوی نوم او شمېرې، توکم، د دوی د ادارو نوم او د تاسيس کال، او همدارنګه د کارمندانو او رضاکارانو شمېر چې له دوی سره کار کوي، د راپور چمتو کوونکيو ته په لاس ورکول.  په دې سربېره، د پوښتنو تمرکز د برخه‌والو پر کار، د دوی د چارو په مخکې پر شته خنډونو او د طالبانو تر حاکميت لاندې د نويو راټوکېدليو مدني بنسټونو تر منځ د همکارۍ پر لارو چارو را ټول و.

په دې خاطر چې د ګډونوالو ادارو د مخينې په اړه دقيق مالومات تر لاسه سي، د پوښتنو يوه برخه د تمويلوونکيو سرچينو، رجسټرېشن او فزيکي دفتر د شتون په اړه سوالونو ته ځانګړې سوې وه.  په عين حال کې د سروې د پوښتنو وروستۍ برخه د هغو خطرونو او ستونزو د کچې د دقيق درک په موخه چې دا مهال ځايي مدني بنسټونه او له دوی سره ښکېل ګروپونه ورسره مخ دي، له امنيت سره تړليو موضوعاتو ته ځانګړې سوې وه.  په دې اړه پوښتنو کې د دوی د کارکوونکيو او ملګريو د نيول کېدو، پر دفتر د ورختو تر کچې، د مالوماتو په اړه پوښتنې شاملې وې. د سروې هغو برخه‌والو ته چې د مدني بنسټونو او سازمانونو د مسووليت چارې پر مخ وړي، د ظرفيت لوړونې په برخه کې د دوی د اړتياوو، ډيجيټل خونديتوب، اداري پراختيا، پروپوزل ليکنې، د پريزنټېشن مهارتونو، د پروګرام مديريت او نورو داسې برخو په اړه پوښتنې چمتوې سوې وې چې د دوی له کار او د ادارو له بقا سره يې کمک کاوه.

Freedom Now د سروې پوښتنليکونه د ۲۱ بېلابېلو مدني بنسټونو پر مشرانو ووېشل. دا ټول هغه بنسټونه ول چې د ښځو د حقونو د خونديتوب، د وروسته پاتې او اقليتي ټولنو، مذهبي او کلتوري حقونو د ساتنې او بشري مرستو ته د عادلانه او مساوي لاسرسی لپاره کار کوي.  د سروې برخه‌والو ته دوه مياشتې وخت ورکول سوی و چې ټولې پوښتنې په ليکلې بڼه ځواب بيا يې د راپور ليکونکيو ته وسپاري. د دغو سازمانونو له ډلې، له ځينو سره يې وروسته مرکې هم وسوې چې دوی ته د ورپېښو امنيتي ننګوونو، مالي مشکلاتو او ځينو عملياتي خنډونو په اړه لا ډېر او کره مالومات تر لاسه سي. د سروې د مرکو له منځه، ځينې نقل قولونه په دغه راپور کې هم را اخيستل سوي دي.

موږ په دې سربېره، د افغانستان د مدني ټولنې له يو شمېر جلاوطنو غړيو سره هم مرکې وکړې. دغه مرکې او مصاحبې د طالبانو له بيا واکمنېدو سره د افغانستان پر مدني ټولنه پر سويو ناوړه اغېزو او په اوسنيو حالاتو کې د دوی پر روانو هڅو راڅرخېدې.  د دغو مرکو له لپاره هم ځانګړی پوښتنليک چې د تعبيد سويو مدني فعالانو د ژوند اړوندې ستونزې او ننګونې يې راسپړلې ترتيب سوی و او په دې سربېره يې د ثبت لپاره هم زمينه برابره سوې وه.  د دغو مرکو په پوښتنليکونو کې زيات تمرکز پر دې سوی و چې پوه سو د طالبانو په لومړۍ واکمنۍ کې مدني بنسټونه تر کومو مرحلو تېر سوي، له محلي نزاکتونو او دودونو سره يې تعامل څه ډول و، د خپلو چارو لپاره يې کومې لارې موندلې او وده څنګه کړې ده.  د دې کار موخه دا وه چې له تېرو تجربو په استفاده، د طالبانو تر اوسني جبر لاندې د ستونزو حل ومومو.

د راپور د چمتو کولو پر مهال لا ډېر نور هغه موارد روښانه سول د سروې له برخه والو سره د ورته مرکو دويمې لړۍ ته لاره هواروي.  دا ټول موارد دا په ډاګه کوي چې دغه راپور هر اړخيز ليکل سوی او د سته ننګونو، فرصتونو او اړتياوو په اړه يې مفصل مالومات په خپله لمن کې رانغښتي دي. په دې خاطر چې د راپوښتل سويو سازمانونو ډېری يې د طالبانو د وروستيو فرمانونو او امرونو له امله تر څار او فشار لاندې و، له دوی سره مرکې د داسې خوندي کانالونو له لارې وسوې چې دوی خپله هم پکې د خونديتوب د احساسولو ډاډ ورکړی.  په دې سربېره، د سروې د برخه‌والو د خونديتوب په خاطر، په راپور کې د دوی له نامه اخيستلو او ورته نورو مالوماتو خپرولو هم ډډه سوې ده.

د راپور لپاره د سروې او مرکو تر څنګ، په عين حال کې تر طالبانو د مخکې او وروسته مودې ځينې هغه قوانين او حقوقي چوکاټونه هم د ډيسک ريسرچ له لارې وڅېړل سول چې محتوا يې د مدني ټولنې او مدني چاپېريال پر ساتنه را څرخېده.  دغه څېړنې د مدني ټولنې د خونديتوب په برخه کې د طالبانو د مکلفيتونو او هغو تاوانونو د روښانتيا لپاره چې د طالبانو له لاسه مدني ټولنې ته رسېدلي، ډېرې مهمې دي.  په دغه راپور کې دا هم په ډاګه سوې چې د طالبانو کړنې، فرمانونه او امرونه د دې لامل سوي دي چې اوس ډېری مدني سازمانونه په افغانستان کې خپل قانوني کارونه نه سي کولای. ځينې نور يې بيا له همدې امله مجبوره سوي دي چې خپلې چارې په پټه تر سره کړي.



Ali Khara/Reuters

# III. د طالبانو په واکمنۍ کې مدنۍ ټولنې ته ورځېرمه حقایق

**د ۲۰۲۱ مېلادي کال په اګست کې د طالبانو لاس ته د افغانستان تر لوېدو وروسته، هلته د انسانانو حقوق یو په بل پسې، خورا په چټکۍ پایمال سول چې دغې چارې نه یوازې د افغانستان په مدني چاپېریال کې د پام وړ تشې جوړې کړې، بلکې له امله یې ټولنیزو پروګرامونو، زدهکړو او روغتیایي اسانتیاوو ته د خلکو لاسرسی بېخي محدود سو.**

دا مهال طالب چارواکیو د ژوند په بېلابېلو برخو کې د مدني ټولنې پر اغېزناکو استعدادونو ګڼې محدودیتونه او بندیزونه وضع کړي دي. د دغه حالت بېخي قربانیان بیا هغه مدني بنسټونه دي چې د طالبانو تر واکمنۍ لاندې راټوکېدلې او د نړیوالې ټولنې له ملاتړ پرته فعالیت کوي. دوی هره ورځ له تهدیده نیولې، تر ګواښل کېدو او بېپوښتنې وژل کېدو پورې خطرونه زغمي. د طالبانو له خوا راوستل سویو شرایطو هلته مېشت مدني فعالان له بې ساري او عجیبو غریبو ګواښونو سره مخ کړي دي.



## مدني ټولنې ته د تر ۲۰۲۱ مخکې راپاتې ننګوونې

د افغانستان مدني ټولنه په ننګوونو کې راټوکېدلې او ورسره عادت ټولنه ده. په ۲۰۲۱ کې واک ته د طالبانو تر رسېدو مخکې هم هلته د مدني ټولنو اداري او غړي له ګڼو امنیتي ستونزو او خنډونو سره لاس او ګرېوان ول. هغه مهال په افغانستان کې د امریکا په مشرۍ له نړیوالو سرتېرو سره د طالبانو جګړه د دې لامل وه چې مدني بنسټونو یې خپل فعالیتونه یوازې هغو سیمو ته رامحدود کړي ول چې له طالبانو پاکې وې. هغه مهال هم د افغانستان په هغو سیمو کې چې د طالبانو تر ولکه لاندې وې، مدنيفعالانو د سر په بیه فعالیت کاوه او لوی خطرونه یې ګالل.

په دې سربېره، حتا په هغو سیمو کې چې نسبتا امنې بلل کېدې او د افغانستان د مخکېني حکومت تر واک لاندې وې، هلته بیا اداري فساد د مدني بنسټونو د فعالیتونو یو لوی خنډ و. د بېلګې په توګه، د حکومت ځایي چارواکیو چې د مدني بنسټونو د رجسټر او څارنې مسوولیت به یې درلود، مدني بنسټونو ته یې له رشوت پرته د کار جواز نه ورکاوه. د اداري فساد دغې بڼې د افغانستان مدني بنسټونه هم له مالي او هم له وجداني پلوه ځپلي وو.

په دغه برخه کې موږ د هغو مدني فعالانو تجربو ته په پام خپلې موندنې وړاندې کوو چې د طالبانو تر بیا راتګ وروسته یې هم خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړی، یا یې تازه فعالیت پیل کړی دی. د دغې برخې لومړنی څېړکی د سیمې او محل په کچه د فعالو مدني ټولنو او فعالانو د چارو پر څرنګوالي راڅرخي. دویم، درېیم او څلورم څېرکي یې بیا د هغو ننګوونو په اړه بحث ته ځانګړې سوي دي چې دغه ټولنې او فعالان ورسره د طالبانو تر جبر لاندې مخ دي او هر څېرکی بیا بېل بېل پر دې غږېږي چې د مدني ټولنې ځایي فعالان له ستونزو او کړاوونو سره څنګه غاړه وړي، د طالبانو له خوا له ورځ تر بلې زیاتېدونکیو محدودیتونو او څار سره څه کوي او د تمویل په برخه کې تر راغلیو بدلونونو وروسته، خپل لګښتونه له کومو لارو پوره کوي. دغه برخه په پای کې د مدني ټولنې د هغو باانرژي چلوونکیو په اړه مالومات په ځان کې رانغاړي چې له ۲۰۲۱ را وروسته هم د مدني ټولنې د پر پښو درولو او بقا هڅې کوي.



**په افغانستان کې د فعالو ځايي مدني بنسټونو داخلي جوړښت**

۲۱ کې يې فعاليت کوي. دغه بنسټونه چې شاوخوا ۴۶۰۰ تنه رسمي او رضاکار کارکوونکي لري، د ښځو د حقونو د ساتنې او ملاتړ په ګډون، د قومي او مذهبي لږکيو د حقونو ننګه او بشري مرستو ته د ټولو له مساوي لاسرسي نيولې، د فرهنګي او کلتوري حقونو تر خونديتوب پورې، په بېلابېلو برخو کې د ستره مسايلو او کشالو پر حلولو کار کوي. د دغو سازمانونو تنوع ته په کتو چې د بېلابېلو توکمونو له منځه راټوکېدلي، دا په ډاډ ويلای سو چې دغه تحليل به د افغانستان د مدني ټولنې د عمومي څرنګوالي د روښانتيا لپاره لوستونکيو ته ډېر ګټور وي.

هغه بنسټونه چې د دغه راپور لپاره ورسره مرکې سوې دي، يوه مهمه ځانګړنه يې دا ده چې اکثريت (٪۶۲) يې په ۲۰۲۱ کې د طالبانو تر واکمنېدو وروسته جوړ سوي دي او پاتې يې د طالبانو تر راتګ مخکې هم فعال و او لا هم خپلو چارو ته دوام ورکوي. که څه هم په افغانستان کې د نويو مدني سازمانونو د جوړېدو لاملونه بېلابېل دي، خو مهم يې لومړی دا چې هلته د بشري حالت تر وخيمېدو او د بشري حقونو تر پايمالېدو وروسته په دغو برخو کې راپيدا سوې تشه ډکول او د اغېزمنو ټولنو د لاسنيوي اړتيا وه. په دې سربېره، هغه مدني فعالان چې د بشري حقونو د ساتنې او ملاتړ لپاره يې تر ۲۰۲۱ وړاندې هم په افغانستان کې کار کاوه، د طالبانو تر راتګ وروسته يا له افغانستان څخه وايستل سول، يا يې له مجبوريته په خپله وطن پرېښود چې د دوی تشه ډکول هم يوه اړتيا وه. تر دې ورهاخوا، د مدني ټولنې هغه فعالان چې لا هم په افغانستان کې د طالبانو جبر ته پاتې دي، ورپېښ خطرونه يې د فعاليت سببونه هم دي. د طالبانو ورځ تر بلې زياتېدونکيو بنديزونو او د مدني ټولنې غړيو ته ورپېښو خطرونو د افغانستان په مدني ټولنه کې د مقاومت او مبارزې روحيه لا پياوړې کړې او د ډېرې مدني بنسټونو د جوړېدو لامل سوي دي. (په دې اړه به د راپور په راتلونکې برخه کې مفصل مالومات وړاندې سي.)

د دغه راپور لپاره د پوښتل سويو سازمانونو يوه بله مهمه ځانګړتيا دا ده چې اکثريت (٪۷۶) يې د ښځو له خوا رهبري کېږي. په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د طالبانو بنديزونه د هغو ادارو لپاره چې د ښځو لپاره کار کوي، د دوی د رسيدګې غوښه اړتيا په ډاګه. د دغو ادارو له ملاتړ پرته، له اوسنيو شرايطو څخه چې پکې په ټول وطن کې د ښځو پر ازادي او تګ راتګ، زدهکړو، کار او ټولنيز ژوند د طالبانو کلک محدوديتونه وضع دي، يوازې دا توقع کېدای سي چې د دغو نويو راټوکېدليو مدني بنسټونو د فعال ساتلو او مرستې تر لاسه کولو په برخو کې به د افغانو مېرمنو استعدادونه لا نور هم وځپي. ښايي دا خبره برعکس هم وانګېرل سي، خو دا هم حقيقت دی چې که د طالبانو جبر له يوې خوا تر ۲۰۲۱ د مخکې افغانستان مېرمنې چې د اوس په پرتله يې په پراخه کچه زدهکړو او کار ته لاسرسی درلود او له خپلو ډېرو حقونو برخمنې وې، د ژوند په هره برخه کې په سيستماټيکه توګه وځپلې، اما له بلې خوا دغه حالت د بې شمېره لوستو او په کار پوه ښځو يو قشر چې د طالبانو جبر يې د فعاليتونو او ارمانونو مخه نيولې، را ټول او منظم کړ. په دې اساس، د طالبانو تر حاکميت لاندې، ګڼ شمېر هغو مېرمنو چې هم يې وړتيا درلوده او هم خپلو فعاليتونو ته ژمنې وې، خپلو چارو ته دوام ورکړ. دا هر څه له دې هم روښانه په ډاګه کېږي چې که وکتل سي، تر ۲۰۲۱ را روسته چې په افغانستان کې مدني ټولنې ته چا هم مخه کړې ښځه ده او بله دا چې له دې نېټې را په دې خوا ګڼ شمېر احتجاجونه او مدني حرکتونه د ښځو په مشرۍ سوي دي.









ښايي ځينې د افغان مېرمنو ستونزو ته د پام پر اړتيا له زيات ټينګار څخه هم دا اندازه ولګوي چې د سروې سويو سازمانونو لويه برخه د ښځو د حقونو د ساتنې او لا پراختيا لپاره هلې ځلې کوي. د يادونې ده چې د دغو سازمانونو له ډلې شپږ يې (٪۲۹) د ښځو د زدهکړو لپاره کار کوي او د هغو نجونو د زدهکړو غم خوري چې طالبانو يې ښوونځي تړلي دي. پاتې نور سازمانونه بيا په ټولنيز ژوند کې د ښځو ګډون، د کلتوري او فرهنګي حقونو خونديتوب او د محرومو ټولنو او توکمونو د حقونو د ساتنې لپاره مبارزه کوي.

له کومو ادارو سره چې موږ مرکې کړې دي، سره له دې چې وطن ورته د دښمن کور دی، لا هم له مخامخ خدماتو نيولې، تر عمومي همکارۍ پورې له خلکو سره مرستې کوي. هغوی چې خلکو ته په مخامخ خدماتو بوخت دي، ډېری يې د زدهکړو په برخه کې کار کوي، ماشومانو ته ټولګي جوړوي او د درسي موادو په چمتو کولو کې ورسره مرستې کوي. پاتې سازمانونه چې د خيرخواهي په چارو بوخت دي، اکثر يې خپل هويت پټ ساتي. دوی خپلو ستونزو ته د نړيوالې ټولنې د پام ور اړولو په موخه، احتجاجونه او مظاهرې کوي، د بشري حقونو په اړه پوهاوی خپروي او له نړيوالو رسنيو سره د اسنادو او شواهدو پر شريکولو تمرکز کوي.

د دغه راپور لپاره پوښتل سوي سازمانونه په افغانستان کې د نويو راټوکيدليو مدني ټولنو يوه ګلالۍ بېلګه وړاندې کوي چې مهمې ځانګړتياوې يې د دوی تازهګي، ښځينه رهبري، د ښځو او منزوي ټولنو پر ستونزو د دوی تمرکز او د طالبانو پر وړاندې وشنده مبارزه د يادولو دي. که څه هم د دغه راپور لپاره پوښتل سوي سازمانونه په چاڼ نه و غوره سوي چې د افغانستان د ټولو په کور دننه فعالو مدني بنسټونو استازولي دې وکړي، خو د دوی مرکو ته په کتو سره سړی په ډاډ ويلای سي چې د بېلابېلو ټولنو افغان وګړي، په ځانګړې توګه افغانې مېرمنې په خورا ورين تندي د مدني ټولنو په خوځښتونو کې برخه اخلي او د طالبانو د حاکم رژيم پر ضد غږ پورته کوي. که له يوې خوا د طالبانو تر جبر لاندې، په مدني ټولنه کې د دومره ګڼ شمېر مېرمنو حضور هيلهمندي زياتوي، خو په عين حال کې دغه چاره د مدني ټولنو چارې له لا ډېرو ننګونو او خنډونو سره مخ کوي چې د راپور راتلونکې برخه يې په اړه مفصل مالومات لري.



## د ځايي مدني ټولنو امنيتي وضعيت

پر افغانستان د طالبانو تر مسلطېدو وروسته د ځايي مدني بسټونو لپاره په راغليو بدلونونو کې تر ټولو مهم يې د دغو بنسټونو د کارکوونکيو نه خونديتوب او د ورپېښو امنيتي ګواښونه زياتېدل دي. دغه خطرونه بيا په ځانګړې توګه د هغو مدني بنسټونو لپاره لا ګواښونکي دي چې د ښځو لپاره کار کوي، يا يې مشري د ښځو پر غاړه ده.

هلته نه يوازې عمومي امنيت له ګواښ سره مخ دی، بلکې د مدني ټولنو کارکوونکي، رضاکاران او غړي د دوی د چارو او خيريه فعاليتونو له امله هم د طالبانو له خوا او هم د سيمه‌ييزو زورورو هدف ګرځي. د مرکه کوونکيو له ډلې ډېرو يې ويلي چې د مدني ټولنې غړي د طالبانو له خوا له لفظي تهديدونو نيولې، تر ترې تم کېدو او بې پوښتنې وژل کېدو پورې له خطر سره مخ دي. د دوی له ډلې زياتو يې د رضاکارو مدني فعالانو د بندي کېدو او شکنجو کيسې راته کړې دي او دريو نورو يې بيا هغه ګواښونه راسره شريک کړي چې طالبانو دوی ته، د دوی د فعاليتونو له امله ورکړي وو. په دغو ګواښونو کې د ترې تم کېدو او بې پوښتنې وژل کېدو هغه يې ډېر انديښمنوونکي وو.

د طالبانو له خوا د جبري ترې تم کولو په پېښو کې يوه جوته هغه يې د هزاره مدني فعالې ظريفې يعقوبي نيول کېدل دي. يعقوبي د ۲۰۲۲ په نومبر کې په يوه مطبوعاتي غونډه کې د برابرۍ لپاره د افغانو مېرمنو د يوه نوي غورځنګ د پرانيستو اعلان کاوه[11] چې د طالبانو له خوا يووړل سوه او څلوېښت شپې د طالبانو په زندان کې تر فزيکي او رواني شکنجو لاندې وه. دې په خپله مرکه کې هغو راپورونو ته هم اشاره وکړه چې پکې ويل سوي، طالبانو له دې سره د دې د توکم په اساس، تر نورو ناوړه چلند کړی دی.[12] د دې دغه ښکارندونې د دې راپور له هغو مالوماتو سره هم اړخ لګوي چې د مرکو پر مهال د مدني سازمانونو مشرانو راسره شريک کړي وو.[13]

هغوی ويلي وو چې د منزوي اقليتونو له خلکو سره د سواستفادې تر کچې ناوړه چلند کيږي. د هغو کسانو له ډلې چې د دې راپور لپاره مرکې ورسره سوې دي، تقريبا نيمو يې ويلي دي چې تر ټولو جدي ګواښ ورته د طالبانو له خوا نيول کېدل او ترې تم کول دي چې ښايي زيات وخت پرته له کومې قانوني پروسې تر اوږدې مودې دوام وکړي. د طالبانو له خوا د مدني فعالانو نيول کېدل، له اټکله وتلې خبره ده، هره لحظه امکان لري او دغې چارې د مدني بنسټونو وړتياوې او استعدادونه خورا بد ځپلې دي.

"زما نوم څو واره د طالب ترهګرو له خوا د هدف سويو کسانو په ليستونو کې راغلی دی. هغه وخت امنيتي ارګانونو خبره کړم او راته ويې ويل چې بايد د ځان خونديتوب ته پام وکړم. بالاخره مې دفتر کور ته ولېږداوه چې سفر او تګ راتګ مې کم سي او له خطره خلاصه سم."

يوه مهاجره فعاله، کاناډا؛






## د ۲۰۲۱ تر اګسټ وړاندې امنيتي فضا

لکه مخکې چې يادونه وسوه، د ۲۰۰۱ او ۲۰۲۱ کلونو تر منځ په افغانستان کې وسله‌والې نښتې د دې لامل وې چې د مدني ټولنې غړي يې خپلو چارو ته نه پرېښوول. په دغه موده کې مدني فعالانو او بنسټونو ته ورپېښ ګواښونه او خطرونه هم د طالبانو او د هغوی د ملاتړو او هم د ځينو نورو افراطي ډلو له خوا جوړ سوي وو. د مرکو يوه برخه‌واله د داسې يوې پېښې په اړه غږېدلې چې پکې يوه وسله‌وال کس هغه تالار ته څېرمه بم الوزلی چې د مدني ټولنې يوه مطبوعاتي غونډه پکې کېده. البته دا نه ده يقيني سوې چې د چاودنې هدف همدا مطبوعاتي غونډه وه که نه.

په دې سربېره، طالبان او ورته نورې وسله‌والې ډلې د مدني بنسټونو غړي د دوی د شهرت او فعاليتونو له امله په نښه کوي. هغه کسان چې د دې راپور لپاره مرکې ورسره سوې دي، وايي، د طالبانو له خوا د وژل کېدونکيو او هدف کسانو په ليسټ کې د دوی نومونه بابېزه خبره نه ده.

**"زما نوم څو واره د طالب ترهګرو له خوا د هدف سويو کسانو په ليستونو کې راغلی دی. هغه وخت امنيتي ارګانونو خبره کړم او راته ويې ويل چې بايد د ځان خونديتوب ته پام وکړم. بالاخره مې دفتر کور ته ولېږداوه چې سفر او تګ راتګ مې کم سي او له خطره خلاصه سم."**

**يوه مهاجره فعاله، کاناډا؛**

که څه هم په افغانستان کې ټولې فعالې ادارې له امنيتي ننګونو سره مخ دي، خو ډېری مرکه کوونکيو ويلي دي چې ځينې ولايتونه د مدني فعالانو او رضاکارو لپاره تر نورو ډېر خطرناک دي. يوه جلاوطنه مدني فعاله چې د مخکېني جمهوري نظام تر چپه کېدو وړاندې يې په ټول افغانستان کې پروګرامونه درلودل، وايي؛

"ځينو ولايتو ته چې به مو همکاران تلل، اکثره وخت به ګواښل کېدل. د بشري حقونو په اړه د يوه ټرېننګ پر مهال يو وسله‌وال کس راغی او زموږ کارکوونکيو ته يې د ټرېننګ نه ترلو په صورت کې د وژلو اخطار ورکړ. هغه وخت چې به په کومه سيمه کې زموږ کارکوونکي ګواښل کېدل، هغوی به مو بيا د کار لپاره بل ځای ته لېږل."

که څه هم په ځينو سيمو کې د نورو هغو په پرتله امنيتي تدابير کلک نيول سوي وو، اما سره له دې هم په دغو سيمو کې د مدني ټولنې فعالان له ګڼ ننګوونو سره مخ ول. يوې بلې مرکه کوونکې چې د طالبانو تر راتګ وړاندې په کابل کې د يوې نادولتي ادارې مشره وه، وويل؛"په ۲۰۱۲ کې، په کابل کې يوه جنګسالار زموږ پر دفتر بريد وکړ او موږ يې دې ته مجبوره کړو چې دوه مياشتې خپل دفتر وتړو. وروسته مو د دفتر موقعيت بدل کړ او خپلو کارکوونکيو ته مو وويل چې له کوره دې کار کوي. وروسته بيا د يو څه مودې لپاره موږ خپل کارونه په پټه کول." د ټېر جهوري نظام د واکمنې پر مهال ورځ تر بلې زياتېدونکې نښتې او جګړې هم د دې لامل سوې وې چې ګڼ شمېر مدني بنسټونو خپلې چارې په پټه کولې.

خو له دې ټولو خطرونو سره سره، مدني بنسټونو بيا هم د کارکوونکيو او رضاکارو استخدام په منظمه توګه کاوه. د مرکه کوونکيو له ډلې د يوې د خولې خبرې دي چې؛"په ولايتي پروګرامونو کې په ځانګړې توګه د بشري حقونو اړوند هغه يې ډېر ګواښل سوي، خو د مدني بنسټونو کوم کارکوونکي د ګواښ له وېرې دنده نه ده خوشې کړې." که څه هم د طالبانو د اوسني رژيم په پرتله د افغانستان د جمهوري نظام د واک پر مهال د ښځو ازادي، حقونه او دوی ته سته امکانات بېخي زيات ول، اما بيا هم په دغه موده کې ناامنۍ د بشري خدماتو د لارې لوی خنډ وې.



خلک له وېرې زموږ په پټو تعليمي پروګرامونو کې برخه نه اخلي.

د پوهنې د برخې يوه فعاله، کندهار؛

داسې هم نه ده چې ګواکې په افغانستان کې دې د مدني ټولنې هر غړی له ورته خطرونو او ګواښونو یا فزیکي تاوتریخوالي سره مخ وي، خو سپکې سپورې او لفظي پېکې د طالبانو عادت دی. مرکه کوونکیو راته ویلي دي چې د وهلو ډبولو تهدید ببخي عام دی چې کله کله مخامخ او کله د ټلېفون له لارې کېږي. عموما دغه ګواښونه د طالب چارواکیو له لوري وي، خو کله کله د عامو خلکو او یا مستعارو ادرسونو له خوا هم ورکول کېږي. په داسې حال کې چې له یوې خوا د طالبانو له لوري د تري تم کولو او بې پوښتنې وژلو پېښې هم په اوج کې وي، ګواښونه او تهدیدامېز پیغامونه هم د مدني ټولنې د کارکوونکیو، هم یې د ملاتړو او هم د هغو خلکو تر منځ چې بشري مرستې تر لاسه کوي، خورا لویه وېره او بېاطمناني خپروي.

په دې ټولو سربېره، ځینو مرکه کوونکیو دا اندېښنې هم راسره شریکې کړې دي چې طالب اورپکي یې په کورونو، کارځایونو او شخصي پروګرامونو ورخېژي. دوو مرکه کوونکیو په ځانګړې توګه د دوو جلا جلا پېښو یادونه کړې ده چې د دوی کارکوونکي او رضاکاران د طالبانو له خوا تر چاپو لاندې پکې راغلي. د مدني فعالانو پر کورونو د طالبانو ورختل نه یوازې د دوی چارې ټکنۍ کړې، بلکې د کورنیو غړي او خپلوان یې هم له بېلابېلو ستونزو سره ور مخ کړي دي.

که له یوې خوا په افغانستان کې د مدني ټولنو غړي او کارکوونکي د طالبانو او د هغوی د ملاتړو له خوا له ګواښ سره مخ دي، له بلې خوا هلته شخصي ډلو او کړیو هم د مدني بسنټونو چارې له ستونزو سره مخ کړې دي. ځینو مرکه کوونکیو ویلي دي چې د ادارو کارکوونکي یې د بشري همکاریو او مدني فعالیتونو پر مهال د محلي زورورو له خوا چې که څه هم له طالبانو سره نه وي تړلي، ګواښل کېږي. دوی وایي، کارکوونکي او رضاکاران یې په ځانګړې توګه د عمومي او ټولنیزو پروګرامونو پر مهال د دغو کسانو له خوا حتا په فزیکي بڼه هم ځورول کېږي. له همدې خاطره د مدني ټولنې ډېری فعالان عمومي پروګرامونه او د پوهاوي خپرول د ځان او خپلو همکارانو لپاره له خطره خالي نه بولي.

د عامو وګړو او سیمهییزو زورورو له خوا د مدني فعالانو ګواښل او ځورول په ځانګړې توګه هغه مدني فعالان لا ډېر ځپي چې له منزوي او اقلیت ټولنو سره تړاو لري. د بېلګې په توګه، له دې امله چې ټولنه بشپړه سنتي او د ښځو د ملاتړ روحیه پکې ډېر کمه ده، په ځانګړې توګه د ښځو د حقونو ښځینه کارکوونکې پکې د خپلو ټولنیزو فعالیتونو له امله او هم له دې امله له خطر سره مخ دي چې دوی ښځې دي. هغه ګروپونه او مدني فعالان چې له منزوي او اقلیت ټولنو سره تړاو لري او په ټولنیزو پروګرانو کې ونډه اخلي، حتا د خپلو ټولنو له منځه له ګواښ سره مخ وي. دوی له ګواښلو نیولې، تر فزیکي برخورد او انتقام پورې له خطرونه سره لاس او ګرېوان وي. د دومره ډېرو خطرونو دغسې را یو ځای کېدو، د ټولو ادارو چې موږ د دې راپور لپاره پوښتلې، کارکوونکي او رضاکاران چې د پام وړ برخه یې ښځې او د اقلیتونو خلک دي، په بېلابېلو برخو کې له ستونزو سره مخ کړي دي.

دغه حالت نه یوازې د پوښتل سویو ځایي مدني بنسټونو چارې ور ټکنۍ کړې، بېلکې په بېلابېلو برخو کې یې د دغو بنسټونو کارکوونکیو ته درانه زیانونه ور اړولي دي.

ځینو ادارو خو لا په بېلابېلو ولایتونو کې چې د دوی کارکوونکي پکې خوندي نه ول، خپل فعالیتونه تر نامالومې نېټې ځنډولي دي. د مرکه کوونکیو له ډلې یوه؛ "موږ له مجبوري په یوه ولایت کې خپلې چارې وځنډولې، ځکه هلته زموږ د کارکوونکیو لپاره ننګونې ببخي زیاتې وې. دا یو لېرې پروت ولایت دی او هیڅوک د هغو هزاره ښځو په اړه پوښتنه نه کوي نه یې غږ اوري چې له همدې ولایت څخه وړل سوې او تري تم سوې دي." ځینو نورو مدني سازمانونو خو بیا په ټول وطن کې د نه خوندیتوب او سته خطرونو له امله خپل کارونه بند کړي دي.

هغه سازمانونه او ادارې چې لا هم په اوسنیو شرایطو کې په افغانستان کې فعالې دي، له خطرونو څخه د ځان او کارکوونکیو د خوندیتوب په خاطر له بېلابېلو تکتیکونو استفاده کوي. ځینو مرکه کوونکیو راته ویلي دي چې دوی خپلې چارې زیات وخت په پټه سر ته رسوي، د غونډو او جلسو ادرسونه او موقعیتونه بدلوي او داسې عمومي ځایو ته هم له ورتګ څخه ډډه کوي چې د طالبانو د ورپېښېدو اندېښنې ورسره تړلې وي.

**ما د ښځو لپاره یو کتابتون جوړ کړ چې ښځې او نجونو پکې مطالعه وکړي او دلته له یو بل سره مجلسونه وکړي، خو وروسته چې طالبان راغلل او هر څه یې ولیدل، لومړی یې زموږ کارکوونکي ورتړل، وروسته یې د کتابتون د ترلو او زموږ د زنداني کېدو ګواښونه وکړل او بیا موږ مجبور سوو چې دغه کتابتون د ښځو پر مخ وتړو.**

په کابل کې د پوهنې د برخې یوه فعاله



د مدني بنسټونو له خوا د کاري تکتیکونو بدلولو حتا له خلکو او رسنیو سره د دوی د اړیکو پر نیولو هم اغېز کړی دی. دا مهال چې نادولتي ادارې او محلي مدني بنسټونه نه سي کولای په ښکاره په عامو ځایونو کې پروګرامونه وکړي یا په خلاص لاس د خپلو فعالیتونو مالومات له خلکو او رسنیو سره شریک کړي، ځکه طالبان د دوی د ټولو فعالیتونو مخالف دي او ښايي خپلې چارې ورته له زندانه نیولې، تر ګواښ، وهلو ټکولو او په ځینو مواردو کې د مرګ لامل سي، په همدې خاطر دوی خپل کمپاینونه، غونډې او نورو فعالیتونه د فلم په بڼه ثبتوي او بیا څه موده وروسته همدغه ثبت سوي مواد له رسنیو، کلیدي تصمیم نیوونکیو، متحدینو او خپلو ملاتړو سره شریکوي.

مرکه کوونکي وایي، د خپلو کارکوونکیو امنیت او خوندیتوب ته تر بل هر څه لومړیتوب ورکوي او په دې اړه منظم اقدامات کوي، خو د اکثریت یې یوه شریکه اندېښنه د غونډو او نورو پروګرامونو لپاره د خوندي ځای نه کمی دی. د مرکه کوونکیو له ډلې ۶۷٪ یې ویلي دي چې د امنیتي اندېښنو له وېرې دفتر نه سي نیولای او دوو یې بیا ویلي چې دفترونه یې درلودل، خو د ناامنیو له امله یې تړلي دي. طالبانو په افغانستان کې واک ته تر رسېدو وروسته د ملاتړ ټولې هغه لارې د مدني بنسټونو پر مخ تړلې دي چې دوی به وربانډې خپلې دفتري چارې پر مخ بېولې. په دې سربېره، واک ته د طالبانو له رسېدو سره د تېر په پرتله امنیتي ګواښونه په حیرانوونکې توګه زیات سوي او لا هم مخ په بره روان دي چې له امله یې د مدني ټولنې د غړیو له خوندیتوبه نیولې، د دوی تر ټولو چارو پورې اغېز رسېدلی دی.

له دې ټولو ننګونو او ګواښونو سره سره د افغانستان مدني بنسټونه لا هم خپلو فعالیتونو ته ژمن دي او له موږ سره په مرکو کې یې په ډاګه ویلي دي چې حتا که وضعیت همداسې دوام کوي، دوی دې ته اماده دي چې خپلې چارې او فعالیتونه حد اقل ته را کم کړي، اما لاس نه ځنې اخلي. په افغانستان کې واک ته د طالبانو رسېدو نه یوازې د مدني بنسټونو او سازمانونو لپاره امنیتي ننګونې او خنډونه جوړ کړي دي، بلکې د دې لامل هم سوي دي چې د مدني ټولنې او غړیو لپاره یې چاپېریال لا خونړی کړي او نورو ډلو او خلکو ته زمینه برابره کړي چې پر فعالانو ور بلوسي. د راپور راتلونکې برخه تر امنیتي ګواښونو هاخوا، پر هغو اغېزو راڅرخي چې د طالبانو د واک ته رسېدلو له امله پر مدني بنسټونو او د دوی پر چارو سوې دي.




**موږ به پخوا په پارکونو او عامه ځایونو کې په ښکاره لاریونونه او خوځښتونه تنظیمول، اما اوس دا امکان نه لري. موږ خپلې اکثریت ناستې اوس په کورو کې په پټه کوو او عکسونه یې بیا څو میاشتې وروسته پر ټولنیزو رسنیو خپروو. د دې کار ګټه دا ده چې د راټولېدو پر ځای له سمدستي برید او ځار څخه خوندي پاتې کېږو. موږ په هیڅ صورت نه غواړو د خپلو کارکوونکیو یا نورو خلک ژوند له خطر سره مخ کړو.**

- د ښځو د حقونو فعاله، کابل

## د مدني ټولنې پر چارو د طالبي بنديزونو اغېز

د طالبانو له لوري پر عامه فعالیتونو او مدني حرکتونو پرلهپسې بنديزونه د دي لامل سوي دي چې په ټول افغانستان کې د مدني ټولنو چارې او په مدني پروګرامونو کې د فعالانو او خلکو ګډون تکنی کړي. هغه ګروپونه او کسان چې د زدهکړو، بشري حقونو، روغتيا او نورو برخو کې د خلکو خيرخواهي کوي، تر نورو ډېر د دغو بنديزونو له امله له ستونزو او فشارونو سره مخ دي.

طالبانو په افغانستان کې واک ته تر رسېدو وروسته ګڼ شمېر داسې فرمانونه او احکام پلي کړي دي چې په اساس يې د بشري حقونو اړوند فعاليتونه چې د مدني بنسټونو د فعاليتونو اساس تشکيلوي، منع اعلان سوي دي. طالبانو د دغو بنديزونو له امله ډېرى محلي مدني بنسټونه دې ته اړ کړي چې ځانونه او خپلې چارې د خلکو له نظره پټ کړي.

د طالبانو له خوا د راوستل سويو بنديزونو له امله د مدني بنسټونو پر چارو د سوې اغېزې يوه بېلګه د زدهکړو په برخه کې د دوى بنديزونه دي. په ځانګړې توګه د نجونو پر زدهکړو د طالبانو بنديزونو هغه ادارې او بنسټونه لا ډېر له ستونزو سره مخ کړي دي چې د پوهنې په برخه کې کار کوي. يوه فعاله چې د زدهکړو د عامولو په موخه کمپاينونه جوړوي، د مرکې پر مهال يې وويل چې طالبانو حتا د کتابونو پر وېش هم بنديز لګولی دی. دا وايي، د ځينو وړو وړو چارو لکه کور په کور د زدهکړو د پيغام خپرول او د ټولنې له مشرانو سره د پوهنې پر اهميت خبرې کول هم د طالبانو ليکلې اجازه غواړي چې دې کار د دوى ستونزې لا ډېرې کړې دي. دوى وايي، په دې هر څه سربېره، ګواښونکې ټليفوني اړيکې او د طالبانو له لوري مخامخ د دوى د کارکوونکيو ګواښل، اوس تکراري او عادي خبره ده.

يو بل مهم خنډ د طالبانو له خوا په کورنيو او نړيوالو نادولتي ادارو کې د ښځو پر کار کولو بنديز دی.[14] که څه هم دغه بنديز په پيل کې يوازې د حجاب له مراعتولو پيل سو، خو وروسته په کار کولو هم بنديز ولګېده. د طالبانو څو تنو وزيرانو د ۲۰۲۳م په جنوري کې د ځينو داسې دستورالعملونو د جوړولو اعلان وکړ چې ګواکې په اساس به يې تر ځانګړو شرايطو لاندې، يوازې د "بشري چارو" په برخه کې، افغان مېرمنو ته، کار ته د راګرځېدو زمينه برابره سي.[15] که څه هم په افغانستان کې دننه د ګوتو په شمېر څو کسان او ځينې د باندې مېشت څارونکي دې ته خوشبين دي چې د طالبانو بنديزونه به ختم سي، خو د دوى له څرګندونو داسې ښکاري چې لا هم د طالبانو په افغانستان کې ځينې داسې استثنات او معافيتونه سته چې ښځو ته د روغتيا او زدهکړو په څېر په ځينو خاصو برخو کې د کار اجازه ورکوي. دا هغه برخې دي چې طالبان نه سي کولای ښځې په بشپړه توګه ورڅخه وباسي، ځکه دوى خپله نارينه ته اجازه نه ورکوي چې حتا د ښځې درملنه وکړي، يا څه ور وښيي.







ځينې لومړي لاس راپوروونه ښيي چې د طالبانو د ښځو ضد فرمانونه د افغانستان په ټولو ولايتونو کې يو ډول نه پلي کېږي، بلکې په هره سېمه کې فرق کوي.[16] هغه ښځې چې د رهبري او مديريت په کچه چارې پر مخ وړي، په اساني له کورو څخه کار کوي، خو هغوى چې په ساحه کې کار کوي، په ځينو سيمو کې له سيمهييزو چارواکيو سره داسې توافق ته رسېدلې دي د شرايطو او محدوديتونو په منلو يې قناعت ورکړی چې ځينې چارې له ښځو پرته نارينه نه سي کولای او دوى يې بايد وکړي. دغو مېرمنو ته اېښوول سوي شرطونه دا دي چې حجاب به په بشپړه توګه مراعتوي، همېشه به يو نارينه محرم هم ورسره ګرځوي او د خپلو چارو په اړه به خوله پټه نيسي. دغه شرطونه بيا په ځينو ولايتونو کې له نورو هغو سره توپير لري، داسې چې د طالبانو ځينې مشران په بشپړه توګه د ښځو اړوند ټول کارونه منع بولي، خو ځينې چارواکي يې بيا له نادولتي بنسټونو سره ناسته ولاړه لري. د طالب چارواکيو له متفاوتې رويې داسې ښکاري چې پرېکړې ټولې په خپل سر کېږي او ولايت په ولايت فرق کوي. دغې چارې له دې امله هم مدني بنسټونه ګنګس کړي چې نه سي کولای د هغه چاپېريال لپاره چې دوى کار پکې کوي، د پلان جوړولو لپاره يو مکمل انځور له ځان سره ولري. په داسې حال کې چې حتا ځينې د ښځو په مشري مدني بنسټونه چې د طالبانو د اقتصاد يا عدليې وزارت له خوا د کار جوازونه هم ورکول سوي وي، خو د ولايتونو محلي چارواکي د مرکز دغو اجازهنامو ته چندان ارزښت نه ورکوي او نه يې مني. همدا لامل دی چې مدني بنسټونه نه خپل مشروعيت ثابتولای سي، نه منزوي سويو او اقليتي ټولنو ته د کار کولو وړتيا.

يوه مرکه کوونکې په دې راته غږېدلې چې د طالبانو له خوا دغه راوستل سوي حالت څنګه د نادولتي موسسو چارې ټکنی کړې:

> ”موږ خپلې چارې تقريبا ټولې انلاين پر مخ وړو او ساحوي کارونه مو درولي دي. دوه درې داسې پروګرامونه مو چې د مدني بنسټونو د ظرفيت لوړونې لپاره روان دي، يا له يوې مخې د ښځو له خوا پر مخ وړل کېږي او نارينه کارکوونکي مو انلاين کار ورباندې کوي، يا بيا نارينه له دفترونو او ښځې له کوره کار کوي.“

يوه مرکه کوونکې چې له يوې نادولتي موسسې سره کار کوي، په خپله مرکه کې وايي، په لومړيو کې ښځو کولای سوای په مدني فضا کې سمه برخه واخلي، خو وايي، اوس بنديزونه بېخي زيات سوي دي. دا وايي، دا مهال د دوى په اداره کې ښځې يوازې د روغتيا په برخه کې پاتې دي او له نورو ايستل سوې دي، ځکه طالبان خپل لګول سوي بنديزونه په کلکه عملي کوي. تقريبا ټولو مرکه کوونکيو دا تاييد کړې ده چې د طالبانو له خوا پر ښځو بنديز لګېدلی چې د ادارو له مالي برخې سره بايد راشه درشه و نه لري او پکې د کار کولو اجازه ورته نه سته. له دې سړی اندازه لګولای سي چې ښځې حتا د نادولتي موسسو د کار په ساحه کې د طالبانو د بنديزونو له امله تر کومه حده ځپل سوې دي.



واک ته د طالبانو تر رسېدو وروسته د نادولتي موسسو مسوولینو ته خبرداری ورکول سوی دی چې د طالبانو له خبرولو پرته څوک د کارکوونکي په توګه نه سي مقررولای او که څوک د طالبانو تر څار لاندې کارکوونکي ګماري یا له طالبانو مشوره غواړي، طالبان له ملا پرته بل څوک نه پرېږدي چې مقرر سي. د طالبانو دغو رسمي او نارسمي بندیزونو د نادولتي موسسو لپاره د فعالیت چاپېریال بېخي بتر کړی او د ښځو لپاره خو یې دا ناممکنه کړې ده چې په دفترونو کې کار وکولای سي. له همدې امله مدني بنسټونه یا مجبور دي چې خپلې ټولې فزیکي چارې ودروي او په انلاین توګه یې پر مخ بوځي، لکه اوس چې ډېری مرکه کوونکیو ویلي دوی خپل کارونه همداسې کوي او یا به له خپله هوډه تېرېږي او د ادارو واګې به هغو نارینه‌وو ورپرېږدي چې طالبانو ته د منلو او په د دوی په شریعت برابر وي.

له پورته یادو سویو محدودیتونو او بندیزو سره په خوا کې، ډېری محلي مدني بنسټونه مجبوره سوي دي چې ځانونه حاشیې ته کړي. په دغه حالت کې دوی ته نه د کار کوم رسمي جواز ورکول کېږي او نه فزیکي حضور لري. دغې چارې په نورو ستونزو سربېره د مدني بنسټونو مسوولینو ته دا سرخوږی هم جوړ کړي دی چې د کار له رسمي جوازه پرته، په شفاهي اجازه او شخصي اړیکو تکیه کوي او بیا هغو خلکو ته ځان ورسوي چې د دوی مرستې ته اړ دي. دوی باید په دې سربېره، د هېواد ورځ تر بلې بدلېدونکي سیاسي فضا هم په پام کې ولري او دې ته یې فکر وي چې کومه چاره خو به یې یا په طالبانو بده نه لګېږي، یا خو به د هغوی یا نورو وسله‌والو ډلو پام دوی ته نه ور اړوي.

د دې راپور لپاره د پوښتل شویو بنسټونو اکثریت یې (٨٦٪) داسې دي چې تر اوسه نه دي رجسټر سوي او دا په ډاګه کوي چې دا مهال په افغانستان کې د مدني ټولنې فعالیتونه په څومره نارسمي فضا کې تر سره کېږي. د پوښتل سویو سازمانونو له ډلې یوازې یو یې چې د طالبانو تر راتګ وروسته جوړ سوی دی، رجسټر سوی، خو اکثریت مرکه کوونکي په دې باور دي چې که دوی د کار جوازونه تر لاسه او راجسټر هم سي، د کار رسمي جواز یې چندان په درد نه خوري. دوی وایي، د طالبانو له چلنده داسې ښکاري چې په هیڅ صورت داسې ډله، ګروپ او کس نه پرېږدي چې شک یې ورباندې راسي چې د دوی واک او پرېکړې ننګوي. دا بیا دوی ته مهمه نه ده چې هغه ادرس رسمي جواز لري که نه.

له بېلابېلو هغو ګروپونو سره چې لا هم په افغانستان کې فعالیت لري، په سویو مرکو کې په ډاګه سوې ده چې طالبانو پر دوی فشار راوړی دی چې حتا د خپلو ادارو نومونه او اهداف بدل کړي. طالبان دا کار په دې خاطر کوي چې ځینې حساس موضوعات او نومونه نه غواړي د دوی په واکمنۍ کې یاد سي. د بېلګې په توګه د زده‌کړو په برخه کې د نر او ښځې نابرابري نه غواړي یاده او دغه موضوع وشاربل سي چې داسې و نه ښیي چې ګواکې دغه نابربري سته او نادولتي موسسې د همدې تشې د ډکولو لپاره کار کوي. د مرکو یوه برخه‌واله وایي؛ "موږ د پروګرام محتوا نه ده بدله کړې، یوازې د ازادي پر ځای مو نېکمرغي ولیکله. که کومه موضوع له اسلام سره وتړل سي، دا بیا د برنامې برخه‌والو ته لا معافیت ورکوي."

د راپور لپاره نورو پوښتل سویو کسانو هم منلې ده چې بشري حقونه، د ښځو حقونه او ورته ځینې نور نومونه یې له خپلو یاداښتونو ایستلي، یا یې په ورته نورو نومو اړولي دي. په ټوله کې، دا روښانه ده چې طالبان د خپلو رسمي او نارسمي مقرارتو ګډوله په دې خاطر پر مدني ټولنه تحمیلوي او ټولې مدنې چارې تړلې ساتي چې د دوی په فکر، نه یوازې د مدني بنسټونو او نادولتي سازمانونو شتون نړۍ ته دا پیغام ورکوي چې په افغانستان کې افغانان د طالبانو له خوا له ټولنیزو، سیاسي او اقتصادي ستونزو او بندیزونو سره مخ دي، بلکې دغه د مدني سازمانونو او نادولتي موسسو فعالیت په خپله بېکفایتي تعبیروي.

په دې سربېره، هغه ادارې چې یا په خپلو چارو کې د طالبانو لاسوهنې نه مني، یا یې له بندیزونو سره غاړه نه وړي، له منځه ځي، ځکه طالب چارواکي پوره اختیار لري چې یوه اداره چې د دوی له تصامیمو سره په ټکر کې وي، منحل کړي.

سره له دې چې موږ یوه رجسټر اداره یوو، اما بیا مو هم کارکوونکي په ټلېفون ګواښل کېږي.

- مدني فعاله، غور






څو میاشتې مخکې د تفاهم‌لیک د لاسلیکولو پر وخت طالبانو د نادولتي موسسو قانون راته کېښود او راته کړل یې چې موږ ته وایاست چې د خلکو رواني درملنه کوئ، اما تاسې په حقیقت کې سیاست کوئ. "بشري حقونه"، "بې عدالتي" او "قربانیان" غوندې نومونه له لیسټه وباسئ، که نه تفاهم‌لیک نه امضا کېږي. دوی راته وویل، اوس په افغانستان کې نه څوک قرباني دی، نه بې‌عدالتي سته او د بشر حقونه خو هسې هم د ټولو لپاره خوندي دي.

د یوې نادولتي موسسې رییسه، کابل



## بودیجوي حالت

واک ته د طالبانو له بیا رسېدو سره یو بل راغلی بدلون چې په افغانستان کې یې د په کار اخته مدني بنسټونو او نادولتي موسسو چارې ټکنۍ کړې، د تمویل په برخه کې راپیدا سوي خنډونه دي. ټولو پوښتل سویو بنسټونو ویلي چې د کار او فعالیت پر مهال یې ادارې له مالي ننګونو سره مخ دي. مالي ننګونې نه یوازې د مرستو او همکاریو تر لاسه کوونکیو ته ورپېښې دي، بلکې هغوی چې د نورو لاسنیوی کوي هم، له ستونزو او مشکلاتو سره مخ دي. په دې برخه کې د ناروې د کډوالۍ شورا په ۲۰۲۲ کې د خپلې مطالعې یوه راپور خپور کړی چې پکې راغلي؛

د ۲۰۲۱ د اګسټ پر ۱۵مه، واک ته د طالبانو تر رسېدو وروسته، د نادولتي موسسو لپاره افغانستان ته یا په افغانستان کې دننه له یوه ځایه بل ته د پیسو لېږد په یوه لوی سرخوږي اوښتی. ...په نورو داخلي او بهرنیو فکټورو سربېره، د نړیوالو مرستو بندېدل، د افغانستان بانک فلجېدل، د طالبانو له خوا د سرمایې کنټرول او له اجازې سره سره د چارو په برخه کې شته بندیزونه، هغه عوامل دي چې (له وضعیت سره مطابقت یې لا سخت کړی او مالي برخې یې له ننګوونو او خطرونو سره مخ کړې دي.)[17]

د لوړو حکومتي مالیو وضعه کولو او په ځانګړې توګه د هغې پالیسۍ اعلانولو چې په اساس یې د مدني ټولنو ادارې مکلفې دي بلل سوې چې د خپلو کارکوونکیو د عاید مالیه هم ورکړي، په مالي او اداري برخو کې د نادولتي موسسو د اوږو بار درووند کړی.

### تر ۲۰۲۱ وړاندې بودیجوي حالت

واک ته د طالبانو تر رسېدو مخکې، نادولتي موسسو له دوو لارو مالي ملاتړ تر لاسه کاوه چې یوه یې کورنۍ دولتي بودیجه او بله یې نړیواله هغه وه. په ۲۰۱۸ کې د افغانستان د اقتصاد وزارت په کالني راپور کې په دې اړه راغلي؛

"په ۲۰۱۸ مېلادي کال کې د نادولتي موسسو لګول سوې بودیجه ۸۷۵ ملیونه ډالر ده چې ۲۴٪ (۲۱۲ میلیونه ډالره) یې له ملي بودیجې او ۷۶٪ (۶۶۴ میلیونه ډالر) له نړیوالې بودیجې ورکول سوي دي."[18]

هماغسې چې له ورکول سویو شمېرو ښکاري چې د نادولتي موسسو د بودیجې لویه برخه نړیوالو بسپنه ورکوونکیو چمتو کړې، د دې راپور لپاره پوښتل سویو بنسټونو هم تایید کړې ده چې تر ۲۰۲۱ مخکې ورته له همدې لارو بودیجه راتله چې زیاته برخه یې نړیوالو بسپنه ورکوونکیو ورکوله.

د سروې سویو سازمانونو له ډلې یوازې یوه یې بودیجه تر لاسه کړې چې دا په بنه توګه په ډاګه کوي چې څوک پوه سي د طالبانو تر واک لاندې د مدني بنسټونو او نادولتي موسسو لپاره د نړیوال تمویل تر لاسه کول څومره سخت دي. د پوښتل سویو سازمانونو له ډلې دوه یې توانېدلي دي چې د غړیتوب د فیس او انلاین ملاتړ له لارې د خپلې بودیجې یوه برخه ومومي، خو (۹۰٪) یې هیڅ مالي ملاتړ نه دی تر لاسه کړی. د افغانستان مدني بنسټونه او نادولتي سازمانونه له باوري او دوامدار مالي ملاتړ پرته، مجبور دي چې په ډېره کمه بودیجه خپلې چارې هسې مازې رواني وساتي چې په دې توګه یې هم استعدادونه هسې مصرفېږي، هم یې اړمنو خلکو ته چندان ګټه نه رسېږي.

د طالبانو له واک ته رسېدو وروسته چې اقتصادي ستونزې لا زیاتې سوې دي، د مدني بنسټونو لپاره دا ډېره سخته ده چې د خپلو غړیو د عضویت په پیسو خپلې چارې تر ډېره پورې رواني وساتي. له مدني بنسټونو بیا په ځانګړې توګه له هغو بنسټونو سره چې د ښځو لپاره کار کوي، د طالبانو چلند ته په کتو دا تمه نه کېږي چې که حتا افغانستان مدني بنسټونو ته بودیجه هم ولري او دوی ته یې ورکړي. همدا لامل دی چې په نږدې راتلونکې کې د بودیجې له نېستي د افغانستان د ګڼو مدني بنسټونو د بېخي ورکېدو اندېښنې زیاتې سوې دي. په اوسنیو شرایطو کې د نړیوالې ټولنې لپاره افغانستان ته د پیسو لېږد خورا سخت سوی دی او کومه اندازه مرستې چې افغانستان ته ځي، لویه برخه یې بشري مرستې دي چې د قحطي د مخنیوي او د فقر کمولو په موخه کېږي، خو د بشري حقونو ساتنې ته ډېره کمه بودیجه په پام کې نیول سوې. په ټوله کې د طالبانو له خوا لګول سویو بندیزونو او هغو هڅو چې غواړي دا واک له دوی سره وي چې مرستې چېرې او چا ته لاړې سي، بهرنۍ او کورنۍ دواړه بسپنه ورکوونکې ټولنې له ستونزو سره مخ کړې دي.

> زموږ لپاره (لوی سرخوږی) تنګلاسي ده. موږ ټول رضاکارانه کار کوو او خپلې چارې په خپلو مصارفو پر مخ بیایوو
>
> د ښځو د حقونو فعاله

> په عملیاتي برخه کې موږ ته د طالبانو له لوري د جوړو سویو خنډونو یوه بېلګه دا هم ده چې موږ یا له عامو خلکو چنده راټولوو یا خپل زکات پر خلکو وېشو، نو طالبان راځي او پوښتنې کوي چې له چا چا سره مرستې کوو. دوی وایي، ولې د زکات او چندې پیسې د دوی پر جګړه‌مارو نه وېشو.
>
> د پوهنې د برخې فعاله، کندهار



یو بل د یادولو وړ مهم ټکی دا دی چې د ځایي مدني بنسټونو نوعیت او کوچنیوالي هم دوی ته ځینې ستونزې زېږولې دي. ځنې ګروپونه زرګونه غړي لري، خو چلوونکي یې د ګوتو په شمېر وي. زموږ د موندنو په اساس په افغانستان کې نوي راټوکېدلي مدني بنسټونه په اوسطه توګه د رضاکارانو په ګډون شاوخوا پنځه‌پنځوس کارکوونکي لري. زموږ له خوا په پوښتل سویو سازمانونو کې اکثریت یې (۶۶٪) داسې سازمانونه دي چې د کارکوونکیو او رضاکارانو شمېر یې تر سلو نه رسېږي.

په پایله کې دوی داسې خاص کارکوونکي نه لري چې د پروپوزل لیکنې په برخه کې روزل سوي وي، یا داسې منابعو ته لاسرسی ولري چې د ادارې تمویل ورڅخه تر لاسه کړي. په ځینو مواردو کې خو د بودیجې نېستي د دې لامل سوې ده چې دغه نوي راټوکېدلي مدني بنسټونه او خوځښتونه خپل فعالیتونه یا بېخي کم او یا پر مخ بند کړي. له همدې امله، دوی سره له دې چې ډېر څه کولای سي، خو لاس تر زنې ناست دي. د دغه راپور لپاره په سروې سویو ادارو کې یوه یې مجبوره سوې چې د مالي منابعو له نېستي د ښځو د زده‌کړې لپاره ځانګړې ټولګي او د ماشومانو لپاره د درسي موادو او قلم و کتابچې د چمتو کولو په څېر خپلې مهمې چارې په ټپه ودروي، خو له دې ټولو ننګونو سره سره یې خپل کتابتون لا هم پرانیستی ساتلی دی. د بنسټونو لپاره له مالي سرچینو پرته د موټر له کرایې نیولې د ټلېفون تر کریډیټ، درسي موادو اخیستو او د چاپ تر مصارفو پورې حتا خپلې لومړنۍ اړتیاوې پوره کول هم په یوازې ځان د دوی له وسه وتلې خبره ده. دا مهال ډېرې فعالانې یا خپلې چارې داوطلبانه پر مخ وړي، یا یې مصارف له خپله جېبه ورکوي.

> ما که وس درلودای خپلو خبریالانو ته مې معاشونه ورکول چې زموږ راپورونه انګلش ته وژباړي او په هېواد کې پر هغو ستونزو او خنډونو لا ډېر راپورونه جوړ کړي چې ښځې ورسره مخ دي.
>
> خبریاله او د ښځو د حقونو فعاله


AWPMC

## د افغانستان د مدني ټولنې اوسني وضعیت ته کتنه

په افغانستان کې د مدني ټولنې غړي سره له دې چې له امنیتي ګواښونو نیولې، تر ځار او مالي ستونزو پورې له ګڼو خنډونو سره لاس او ګرېوان دي، خو لا هم خپلو اهدافو او ارمانو ته ژمن دي او د خنډونو په حلولو کې پرلهپسې ډېر ساده خو اغېزناک نوښتونه کوي. د دغه هېواد نفوس ته په کتو چې ۶۰٪ یې تر ۳۰ کلنې د ټیټ عمر ځوانان دي، سړی ویلای سي چې د دغه ولس تقریبا ټول عمر په جمهوریت کې تېر سوی دی.[19] اوس چې د طالبانو د فشارونو له امله ډېری پخوانیو سنتي ټولنو چارې درولې، د همدې ځوان نسل ګڼ شمېر ځوانانو او پېغلو د مبارزې میدان ته رادانګلي چې نه یوازې هغه خپل حقونه وساتي چې دوی په تېرو شلو کالو کې درلودل، بلکې ټولنیز شرایط د ژوند کولو جوګه کړي.

یوه عامه لاره چې تقریبا ټول ګټه ځنې اخلي د چارو او فعالیتونو انلاین بڼه ده. هغه کسان چې تر دې وړاندې به عملا د خیرخواهي په چارو بوخت و، اوس یې خپل فعالیتونه انلاین کړي او د ټولنیزو رسنیو له لارې پوهاوی خپروي چې په عملي میدان کې تر مبارزې دا ډېره لاره خوندي لاره ده. د مرکو له برخهوالو ځینې یې چې د بشري حقونو روان وضعیت او چارې څارې او د پېښو شواهد راټولوي، وایي، دوی لا هم د مالوماتو د راغونډولو توان لري. دوی وایي، کارکوونکې او داوطلبان یې د انلاین پلیټ فارمونو له لارې اړیکې نیسي چې په دې توګه یې موقیعت طالبانو ته نه مالومېږي. په انلاین توګه کار کولو مدني سازمانونو ته دا زمینه هم مساعده کړې ده چې هم د خپلو ادارو داخلي چارې همغږې کړي، هم په خوندي توګه عامه پوهاوی خپور کړي.

په ځینو نورو واردو کې بیا مدني بنسټونو یوازې د خپلو فعالیتونو د ظاهري بڼې په بدلولو سره خپلو اصلي چارو ته دوام ورکړی دی. د بېلګې په توګه، هغه بنسټونه او سازمانونه چې د "ازادي" د ترویج پروژې پر مخ بیایي، هماغه چارې چې باید سر ته ورسېږي، د "نېکمرغي" په نامه یې تر سره کوي. د مرکو برخهوال وایي، دوی پوهېږي چې که خپلې پروژې له اسلامي ارزښتونو سره همغږې کړي، نه یوازې د فعالیت چانس یې پیدا کېږي، بلکې له اسلامي ارزښتونو سره د پروژوي چارو یو ځای کول یې فعالیتونو ته د ډال په څېر خوندیتوب ورکوي. هغه بنسټونه چې له دغه تاکتیک څخه استفاده کوي، وایي، دوی دې پایلې ته رسېدلي دي چې په اوسنیو شرایطو کې باید له ځینو هغو چارو تېر سي چې اوس یې عملي کول تر ګټه تاوان ډېر لري.

> واک ته د طالبانو له رسېدو سره د ښځو په مشري رسنۍ وتړل سوې او ګڼ شمېر ښځینه خبریالانو یې دندې له لاسه ورکړې. خبري اژانسونه اوس پر داسې موضوعاتو راپورونه نه جوړوي چې د ښځو له حقونو سره تړاو ولري. ښځې د طالبانو د جبر په خلاف د مبارزې نوې او تخلیقي لارې مومي، خو څوک راپور نه وربانديې جوړوي. ما د ښځو لپاره یوه نوې رسنۍ جوړه کړه چې دا مهال په ټول افغانستان کې اته تنې خبریالانې رضاکارانه کار راسره کوي او هر ورځ لږ تر لږه پر دوو موضوعاتو راپورونه جوړوو. که مالي ملاتړ تر لاسه کړو، موږ ډېر څه کولای سو.
>
> خبریاله او د ښځو د حقونو فعاله



د مرکو د برخهوالو له ډلې یوه یې وایي؛ "زموږ دفتر اوس یوازې د اروایي ډاډ او بشري مرستو تر کچې فعال دی. زموږ مخکېني فعالیتونه لکه د عامه پوهاوي کمپاینونه، انتقالي عدالت ته کار او د خیرخواهي چارې دا مهال په ټپه ولاړې دي." په افغانستان کې د مدني ټولنې د هغو غړیو لوږ تناسب چې نوي یې فعالیتونه پیل کړي دي او ورځ تر بلې نوې عملي تجربې تر لاسه کوي، د داسې ادارو لپاره یو ښه زېری دی چې په اوسنیو سختو شرایطو کې هم په افغانستان کې د کار کولو په لارو چارو پسې ګرځي. په پایله کې دا ویلای سو چې که له یوې خوا داسې تمه سته چې د مدني ټولنې د غړیو لپاره سته فرصتونه ښایي د وخت په تېرېدو زیات سي، ځکه په دغه برخه کې فعال سازمانونه ورځ تر بلې له ستونزو او خنډونو سره د تعامل چل زده کوي، خو له بلې خوا دا احتمال هم پر ځای پاتې دی چې پورته یاد سوي محدودیتونه او خنډونه چې دا مهال یې د محلي مدني بنسټونو د کار ساحه تنګه کړې او استعدادونه ځپلي دي، ښایي همداسې دوام وکړي. په دې سربېره، د مدني ټولنې د ودې په خاطر دا مهمه ده چې په اوسنیو شرایطو کې باید چارې او فعالیتونه دومره زیات نه وي چې د طالبانو پام او تونډ غبرګون را وپاروي.

د پایلې په توګه، له سستماټیک او اساسي بدلون پرته، دا له امکانه لېرې خبره ده چې د افغانستان مدني ټولنه دې په هغسې ازادي کې ژوند وکړي چې د طالبانو تر راتګ مخکې یې درلوده. د طالبانو ورځ تر بلې زیاتېدونکیو بندیزونو، فشارونو او د تمویل په برخه کې سته خنډونو ته په پام سره داسې ښکاري چې د افغانستان مدني ټولنه د لا نور محدودېدو او انقباض له خطر مخ ده، خو نړیوال ملاتړ که هغه د ظرفیت لوړونې، بسپنې او یا هم د خوندیتوب له نړیوالو مېکانیزمونو د استفادې په بڼه وي، په افغانستان کې د نویو راټوکېدلیو مدني بنسټونو چارې او پراختیا دواړه یقیني کولای سي.



AWPMC

# IV. د طالبانو په واکمنۍ کې د مدني ټولنې مقررات او قانون

**د ۲۰۲۱ له اګسټ راهیسې چې طالبان په افغانستان کې واک ته رسېدلي دي، هلته نه یوازې د مدني ازادیو او بشري حقونو زوال پیل سوی، بلکې حقوقي سیستم او د قانون حاکمیت یې هم له منځه وړي دي.**

**واک ته د دوی د رسېدو له امله د افغانستان حقوقي نظام متضاد، بې ثباته، او له اصلاح وتلی دی او دې چارې هم په کور دننه مدني بنسټونه او هم نړیوال سازمانونو له یوې لویې بې اطمیناني سره مخ کړي دي.**

### د طالبانو په واکمنۍ کې د افغانستان حقوقي سیستم

طالبان پرته له دې چې د افغانانو لومړنیو اساسي قانوني پوښتنو ته ځواب ولري، په زور پر افغانستان واک چلولو ته دوام ورکوي. دوی تر اوسه د افغانستان د ۲۰۰۴م کال د اساسي قانون د لغوه کولو په خاطر کوم رسمي اقدام نه دی کړی.[20] دغه قانون په ۲۰۰۱ کې د امریکا په مشرۍ د طالبانو د پخواني رژیم تر نسکورېدو وروسته د یوه ډیموکراټیک اسلامي جمهوري نظام درلودو، د بیان، جرګو او شوراګانو د ازادۍ، د تبعیض د له منځه وړلو او ګڼ شمېر بشري حقونو د ساتنې او پالنې په موخه جوړ سو.[21] که څه هم په ۲۰۰۴م کال کې دغه جوړ سوي اساسي قانون اسلام ته د رسمي دولتي دین درجه ورکړې وه، خو طالبانو تل دغه قانون له اسلام، شریعت او اسلامي ارزښتونو سره په ټکر کې باله.[22]





طالب چارواکیو د ۲۰۲۱ د سپټمبر په ۲۸مه اعلان وکړ چې په موقته توګه به د افغانستان د ۱۹۶۴م کال د اساسي قانون په لاربښوونو عمل کوي. دغه قانون د افغانستان د پخواني پاچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د واکمنۍ پر مهال جوړ سوی و.[24] د افغانستان د ۱۹۶۴م کال اساسي قانون هم د بیان له ازادۍ نیولې، تر جرګو او شوراګانو او شخصي حریم ته تر درناوي پورې د خلکو د حقونو خوندیتوب لازمي ګڼلی، کار او حقوقي خدماتو ته یې د ټولو مساوي لاسرسی د خلکو حق او د ښځو پر وړاندې تبعیض جرم بللی دی.[25]

په داسې حال کې چې د افغانستان د ۲۰۰۴م اساسي قانون ټولو نړیوالو تړونونو او د ملګرو ملتونو منشور ته درناوی منلی دی، خو د ۱۹۶۴م په هغه کې داسې کوم څه نه تر سترګو کیږي. ښایي یو لامل چې طالبان د ۱۹۶۴م اساسي قانون ته د ۲۰۰۴م پر هغه ترجیح ورکوي دا وي چې طالبان د مخکېني جمهوري نظام د نړیوالو ژمنو او تړونونو دوام ته اراده نه لري. طالبانو د ۱۹۶۴م د اساسي قانون د عملي کولو په غونډه کې دا هم وویل چې د نړیوالو قوانینو او حقوقي اسنادو هم یوازې هغه مادې مني چې د دوی له شریعت سره په ټکر کې نه وي.[26]

له دې هر څه سره سره پر افغانستان واکمن طالبان دا مهال نه د ۱۹۶۴م او نه هم د ۲۰۰۴م اساسي قانوني مني، بلکې اعلان یې کړی دی چې د داسې قانون جوړولو تابیا لري چې په بشپړه توګه به د دوی د تفسیر په اساس له شریعت او دیني متونو سره مطابقت لري.[27] په دې خاطر چې طالبانو لا تر اوسه پورې خلکو ته د قانون هیڅ اساسي اصول نه دي روښانه کړي، افغانستان دا مهال د حکومتولي د سیستم له بنیادي اصولو پرته، په خپل سر اداره کیږي.

د اساسي قانون د نه موجودګي له امله طالبان دا مهال په محلي او ملي کچه پر وضعه سویو روایتونو او سنتونو تکه کوي. دغه سنتي او عنعوي مقررات چې ډېر یې مبهم او د درک وړ نه دي، له اوله په دې خاطر نه دي وضعه سوي چې د اساسي قانون تشه ډکه کړي، بلکې د نظام له سیاسي اهدافو سره د قضایي چارو د همغږۍ په موخه جوړ سوي دي. په پایله کې دا مهال د پخوانیو قوانینو ځینې برخې پیاده کیږي، خو نورې یې بیا په مستقیمه یا غیرمستقیمه توګه د د طالبانو د فرمانونو په واسطه لغوه سوې دي. د طالبانو کړو وړو ته په کتو داسې ښکاري چې دوی د خپلو ضرورتونو په اساس دا فیصله کوي چې د مخکېنیو قوانینو کومې مادې عملي او کومې نه سي. په افغانستان کې قانوني بې ثباتي د دې هم لامل سوې ده چې اوس په دغه هېواد کې د قانون دقیق ارزښت او حیثیت نه مالومیږي.

یوه له هغو برخو چې د طالبانو حقوقي فرمانونو وربانديې ډېر ناوړه اغېز کړی دی، د ښځو حقونه او د دوی په عامه تګ راتګ بندیزونه دي. د دې راپور تر خپرېدو پورې طالبانو ۶۵ داسې رسمي او نارسمي فرمانونه او احکام پلي کړي دي چې ښځې یې له زده‌کړو، کار، ازاد تګ راتګ، روغتیایي اسانتیاوو ته له لاسرسي او خپلو اساسي حقونو څخه محرومې کړې دي.[28] دغه فرمانونه او احکام چې چندان قانوني اساس او سیاسي مشروعیت نه لري، په پراخه کچه له اعلانولو او وضاحت پرته، یوازې صادر سوي او پلي کیږي.[29] د بېلګې په توګه د ۲۰۲۳م په جولای کې طالبانو د یوه فرمان په خپرولو سره ښځینه سینګارتونونه وتړل چې له امله یې نه یوازې ۱۲۰۰۰ سینګارتونونه د ښځو پر مخ وتړل سول، بلکې شاوخوا ۶۰۰۰۰ ښځې یې چې د عیال د نفقې په خاطر یې هلته کار کاوه، له دندو بې برخې کړې.[30] د طالبانو همدا کړنې وې چې له امله یې د افغانستان اقتصاد په چټکۍ له پښو ولوېده او دا مهال شاوخوا ۲۵ میلیونه افغانان په بې‌وزلي کې ژوند کوي. که څه هم ویل کیږي چې د طالبانو سوي امرونه د وړاندیزونو او نصیحت بڼه لري، خو طالب چارواکي یې خورا په سختي عملي کوي او په ځانګړې توګه ښځو ته د سرغړونې په صورت کې فزیکي سزا ورکوي.

**د ۲۰۲۳م په جولای کې پر ښځینه سینګارتونونو د طالبي بندیزونو له امله اوښتی تخمیني زیان:**

۶۰،۰۰۰ کاریګرې بې روزګاره سوې

۱۲،۰۰۰ سینګارتونونه تړل سوي

**د هغو افغانانو شمېر چې تر ۲۰۲۱ راوروسته د وضعه سویو بندیزونو له امله غریبي تېروي:**

د ۴۳ ملیونه کسانو له ډلې، ۲۵ ملیونه



Kaveh Kazemi/Getty Images

## د طالبانو په واکمني کې د نادولتي موسسو چوکاټ

**د ۲۰۲۱ له اګسټ را په دې خوا په افغانستان کې ډېری کورنۍ او بهرنۍ نادولتي موسسې چې اکثریت یې د عامه پالیسي، بشري حقونو، مطبوعاتو، د ښځو او ماشومانو د حقونو په برخو کې په فعالیت بوختې وې، خپل کارونه یې په ټپه درولي او د رهبري د کچې کارکوونکي یې د افغانستان پرېښودو ته مجبوره سوي. که څه هم طالبانو تر اوسه په رسمي ډول دغه سازمانونه نه دي منحل کړي، خو بې سرنویشته کړي یې دي. دوی له قانوني نظره فعال دي، خو لاس یې بیا تړلي دي.**



### تر طالبانو وړاندې د مدني ټولنې مقررات

د افغانستان د مخکېني اسلامي جمهوري نظام د واکمني پر مهال د اساسي قانون اړوندو اسنادو په ګډون داسې نور ګڼ شمېر ځانګړي ملي قوانین هم جوړ او عملي سوي وو چې د نادولتي موسسو او خیریه بنسټونو چارې یې تنظیمولې. په دغو قوانینو کې د ۲۰۰۵م د نادولتي موسسو یا این‌جي‌اوګانو قانون، ″د ناولتي موسسو قانون″ او د ۲۰۱۳م د انجمنونو یا اتحادیو قانون ″د اتحادیو قانون″ د یادولو دي. دغو دواړو قوانینو د طالبانو تر راتګ مخکې، د افغانستان د مخکېني اسلامي جمهوریت په واکمني کې د نادولتي موسسو او محلي مدني بنسټونو له ثبت او رجسټر نیولې، تر عملي ډګر پورې د دوی چارې تنظیمولې. د افغانستان د ۲۰۰۴م د اساسي قانون د ۳۵مې مادې په اساس، د قانون په چوکات کې ″هر افغان حق لري چې اتحادیه جوړه کړي″. که څه هم دغه دواړه قوانین یو له بله چندان توپیر نه لري او دواړه د ځایي مدني بنسټونو د ودې لپاره د یوه مناسب چاپېریال جوړولو په موخه جوړ سوي او د تېر حکومت د اقتدار پر مهال یې په شریکه د مدني بنسټونو چارې تنظیمولې، خو دلته په دې راپور کې د پوښتل سویو سازمانونو چارو او د دې راپور له محتوا سره د نږدېوالي په خاطر چې د ښځو په مشري نادولتي سازمانونو باندې راڅرخي، د نادولتي موسسو پر قانون ډېر تمرکز کوو. که څه هم د افغانستان د مخکېني حکومت د عدلیې وزارت وېب‌پاڼه لا هم ښیي چې دغه دواړه قوانین پلي دي، خو روښانه ده چې په ۲۰۲۱ کې د طالبانو تر راتګ وروسته یې څومره مادې نقض سوې دي.

د نادولتي موسسو د قانون تر پوښښ لاندې هم د افغانستان کورنۍ او هم بهرنۍ نادولتي موسسې راځي او لارښوونه کوي چې که یوه اداره غواړي د نادولتي موسسې په توګه وپېژندل سي، باید د افغانستان له اقتصاد وزارت سره رجسټر سي. زموږ د سروې برخه‌والو په خپلو څرګندونو کې ویلي دي چې په افغانستان کې د یوې ادارې د رجسټر کولو پروسه د نورو هېوادو په پرتله ساده او اسانه وه. یوه مرکه کوونکې چې دا مهال د جلا وطنۍ ژوند تېروي په دې اړه وایي؛″زه فکر نه کوم په افغانستان کې د یوې موسسې د رجسټر پروسه سخته وه. ما چې خپل هماغه نهاد په انګلستان کې رجسټر کاوه او د اړینو اسنادو او توضیحاتو اندازې ته مې کتل، فکر مې کاوه چې په افغانستان کې دغه پروسه تر دې ځای اسانه وه.″



پر لیکه څېړنې، سته حقوقي چوکاټونو ته کتنې او په ساحه کې له فعالو کسانو سره مرکې داسې ښیي چې طالبانو لا هم په رسمي توګه د نادولتي موسسو د ساتنې او اداره کولو هغه قانون نه دی لغوه کړی چې د تېر اسلامي جمهوریت په واکمني کې جوړ سو و. که څه هم د افغانستان د ۲۰۰۵م د نادولتي موسسو قانون لا هم پر ځای پاتې دی، خو طالبان د ۲۰۲۱ له اګست راهیسې چې دوی واک ته رسېدلي، د پرله‌پسې فرمانونو او منطقوي طرالعملونو په واسطه نادولتي موسسو او مسوولینو ته یې ورځ تر بلې لا زیات خنډونه او بندیزونه جوړوي. دغه محدودیتونه یو څه یې د نادولتي سازمانونو له رسمي قانون او څه یې د طالبانو د خپل تعبیر په اساس دي.

د نادولتي موسسو قانون د موسساتو د "اهدافو او فعالیتونو" په برخه کې وایي چې هیڅ دولتي مقام یې مخه نه سي نیولای، خو هغه قانون چې د نادولتي سازمانونو د کار ساحه محدودوي په دغه برخه کې ځانګړي احکام لري.(۷مه ماده) (۸مه ماده) بیا هغه ساحې په نښه کوي چې کار کولو ته پکې اجازه نسته لکه سیاسي موخې او فعالیتونه، کمپاینونه، د تاوتریخوالي ملاتړ، د نشه‌یي توکو کاروبار، نظامي فعالیتونه، د ټروریستانو ملاتړ او غیرقانوني تجارت.

هغه ادارې چې د طالبانو بندیزونو منلو او د دوی په خوښه خپلو چارو تنظیمولو ته غاړه نه ږدي، د طالبانو د نادولتي موسسو د قانون د ۳۵مې مادې د حکم په اساس منحلېږي، هم په رضاکارانه توګه او هم د طالبانو د ارزیابي د عالي کمېسیون له خوا چې د نادولتي موسسو چارې څاري، منحلېږي. د یوې نادولتي ادارې انحلال هغه وخت صورت مومي چې یا خو یې اړوند قانون د ټرلو جواز ورکړي، یا یې په اړه د ارزیابي عالي کمېسیون داسې سپارښتنې وکړي چې ګواکې د پلانۍ ادارې چارې یا له "ملي ګټو، یا د دې او یا هغه قانون له پلانۍ او پلانۍ مادې سره په ټکر کې دي."[34] د طالب چارواکیو وضعه سویو مقرارتو دوی ته دا زمینه برابره کړې ده چې که یې له پرېکړو سره کومه نادولتي موسسه په ټکر کې راځي، له مخې سره یې وتړي. که څه هم پخوا د شخړو د حل د کمېسیون په بڼه د شکایتونو یو مېکانېزم و، خو (داسې نه ښکاري چې طالبانو دغه اداره او احکام یې پر ځای پرې ایښي او منلي وي.) که څه هم په افغانستان کې د خیر ښېګڼې د کارونو لویه برخه د ښځو په مشري نادولتي سازمانونه کوي، بېلابېل فعالیتونه او سرچینې برابروي، خو اکثریت یې تړلې سوې دي، یا یې مشرانې د طالبانو له خوا د دوی د فعالیتونو له امله زنداني سوې دي، په داسې حال کې چې دوی له ټولو داسې فعالیتونو لېرې ګرځېدې چې د نادولتي موسسو د قانون له اتمې مادې سره په ټکر بلل کېږي. دغه ماده هغه ساحې په نښه کوي چې مدني بنسټونو او نادولتي سازمانونو ته پکې د کار کولو اجازه نه سته.[35] په دې سربېره، د دوی چارې او فعالیتونه هم "له ملي ګټو سره په ټکر کې" نه و، خو د نادولتي سازمانونو قانون د (۳۵)(۵) مادې په اساس بیا هم د ادارو د منحلولو جواز ورکړی چې په ډاګه ورڅخه ښکاري چې یا خو طالبان هغه قضایي خوندیتوب چې تر دې وړاندې په افغانستان کې نادولتي موسسو ته ورکول سوی و، په بشپړه توګه له منځه وړی، یا یې هم د خپل رژیم د اهدافو مطابق تراشلی دی.

داسې ډېر کم اتکل کېدای سي چې د طالبانو چلند دې له نادولتي سامانونو او هغو ښځو سره چې د دغو سازمانونو مشري کوي، توپیر وکړي، ځکه تر دا مهاله د طالب چارواکیو اعلانونو او زموږ د سروې د برخه والو تجربو ته په کتو دا لکه لمر روښانه ده چې ښځې په پرله‌پسې توګه د طالبانو د نرمحوره احکامو، فرمانونو او مقراراتو په واسطه، له رسمي ادارو څخه په زور ایستل کېږي او پر کور کښېنول کېږي.



## د طالبانو په واکمني کې د نادولتي موسسو د قانون‌جوړونې امکانات

په ۲۰۲۱ کې واک ته د طالبانو تر رسېدو وروسته په قانوني چوکاټ کې نه کوم رسمي بدلونونه راغلي او نه د هغو تعديلونو په اړه کره مالومات شته چې د نادولتي موسسو په قانون کې راوستل سوي، په همدې خاطر زموږ دغه راپور د ۱۹۹۶ او ۲۰۰۱ کلونو تر منځ د طالبانو د مخکېنۍ واکمني پر مهال، پر هغه دريځ تمرکز کوي چې مدني سازمانونو خپل کړی و. د دې کار موخه دا ده چې وکولای سو په دې وپوهېږو چې نادولتي سازمانونو څنګه کولای سي د طالبانو په اوسنۍ واکمني کې وده وکړي.

تر ۲۰۰۱ له مخه د طالبانو د تېرې واکمني پر مهال، خلکو ته د مرستو رسولو لړۍ له بېلابېلو خنډونو سره مخ سوه چې ډېر يې د طالبانو د اوسنۍ واکمني خنډونو او بنديزونو ته ورته وو. يو تر ټولو مهم يې چې هغه مهال هم و او اوس هم پر ځای پاتې دی، د طالبانو له خوا د ښځو او منزوي سويو اقليتونو له مرستو او ملاتړ څخه محروموول دي. هغه مهال هم ښځې په کورنيو او بهرنيو نادولتي سازمانونو کې د څو فرمانونو په واسطه له کار کوولو څخه منع کړل سوې وې.[36] په عين حال کې په خپل سر د نادولتي سازمانونو لپاره قوانين او مقررات ټاکل او عملي کول يې بل هغه کار دی چې طالبانو په خپله اوسنۍ واکمني کې بيا تکرار کړ. په ۱۹۹۸ کې طالبانو په افغانستان کې پر نادولتي سازمانونو باندې، په مبهمو (سياسي فعاليتونو) کې د ښکېلتيا په تور د کار دايره دومره محدوده کړه چې له امله يې ۳۸ نړيوالي نادولتي موسسې له افغانستان څخه ووتې. دا ډېر امکان لري چې طالبان به په نږدې راتلونکي کې دې ته ورته په نورو توجهياتو، په افغانستان کې فعال هغه مدني سازمونونه چې د ښځو او بشري حقونو په برخه کې د دوی نيت او نظر ننګوي، له صحنې وباسي. طالبانو د ۲۰۰۰م کال په جون کې د کورنيو او نړيوالو نادولتي سازمانونو د فعاليتونو د کنټرول په موخه (د موسساتو مقررات) په واسطه د نادولتي سازمانونو چارې خورا محدودې کړې. د طالبانو دغه اقدام نادولتي سازمانونه له رجسټرېشنه نيولې، تر تشکيل او ورځنيو چارو پورې له محدويتونو سره مخ کړل.

نوم‌ليکنه

د نادولتي موسسو د مقرراتو په اساس، نوم‌ليکنه يا رجسټرېشن لازمي دی. کومې نادولتي ادارې چې په افغانستان کې کار کوي، مکلفې دي چې چې ځانونه رجسټر کړي او که يې و نه کړي، زندان او مالي جريمې ورته ګوري. خو په عين حال کې د نوم‌ليکنې پروسه خورا سسته ده. غوښتن‌ليکونه بايد لومړی د پلان وزارت ته ولېږل سي، له هغه ځايه د ارزيابي عالي کمېسيون ته ځي او د پروسې په هر پړاو کې هر څوک په خپل سر پرېکړې کوي چې دغې چارې په خپله پراخ فساد ته هم زمينه برابره کړې ده.





### د ۲۰۰۱ او ۲۰۲۱ تر منځ د يوې موسسې د ثبت پروسه

د يوې نادولتي موسسې د ثبت او نوم‌ليکنې لپاره لارښوونو ته د نادولتي سازمانونو د قانون په دويم فصل کې ځای ورکول سوی چې اقتصاد وزارت ته يې د نادولتي موسسو د ثبت يا رد دواړو صلاحيت ورکړی دی. د رجسټرېشن فورمو کورنۍ نادولتي موسسې مکلفې کړې وې چې د موسسې د نوم، تګلارې او نورو په اړه اساسي مالومات ثبت کړي. په دې سربېره، نادولتي سازمانونه مکلف ول چې د کارکوونکيو عکسونه، نومونه، امضاوې او د بورډ د غړيو د هويت کارټونو کاپي هم د ثبت لپاره له خپلو اسنادو سره ضميمه کړي. له بهرنيو نادولتي موسسو څخه بيا لا زيات او تفصيلي مالومات غوښتل کېدل، د بېلګې په توګه په خارج کې د ثبت اسناد او د ګټو د ټکر د مخنيوي په موخه، د موسسو د مسوولينو د خپلوانو او خپښانو په اړه مالومات غوښتل کېدل. په دې سربېره، په ځينو مواردو کې چې به کومه نادولتي موسسه د افغانستان له تېر حکومت سره رجسټر کېده، دا اړتيا وه چې د خپلو کارکوونکيو په اړه د حکومت لا ډېرو پوښتنو او سپناوي ته ځواب ورکړي.

د ثبت لپاره د غوښتن‌ليک تر سپارلو وروسته د افغانستان د نادولتي سازمانونو د قانون ۱۶مې مادې د دقيقې ارزيابي څرنګوالی تشريح کاوه. دغه قانون د اقتصاد وزارت تخنيکي کمېسيون ته چې د نادولتي موسسو د غوښتن‌ليکونو د تصويب مسووليت يې درلود، دا واک ورکړی و چې د خپلو صلاحيتونو يوه برخه ولايتي ادارو ته تفويض کړي چې دې کار په سيمه‌ييزه کچه له موسسو سره په کېدونکي چلند کې د توپيرونو او نابرابريو د شتون امکان څرګنداوه. د قانون په اساس، نادولتي سازمانونه مکلف وو چې خپلو چارو ته په کتو، په محلي کچه اړوندو حکومتي ادارو ته خپل تفاهم‌ليکونه وسپاري. د بېلګې په توګه، که يوې ادارې د ښځو لپاره کار کولای، بايد خپل تفاهم‌ليک يې په اړوند ولايت کې د ښځو چارو رياست ته سپارلی وای. تر دې وروسته به د جواز پروسه د هماغه ولايت د والي له خوا تاييدېده. د دغه راپور لپاره په مرکو کې پوښتل سويو څو تنو د دې پروسې په اړه ويلي دي چې له دغسې لاس په لاس کېدو سره د رجسټرېشن په پروسه کې رشوت هم غوښتل کېده چې دا په خپله په ډاګه کوي چې که څه هم هغه مهال قانون هم و، خو بيا هم موسساتو ته د جواز پروسه له فساده نه وه پاکه.

په هغه عين حال کې هغه نړيوالې نادولتي ادارې چې غوښتل يې په افغانستان کې کار وکړي، مکلفې وې چې په اقتصاد وزارت سربېره، د بهرنيو چارو د وزارت اجازه هم واخلي. دغه نړيوالې موسسې چې افغانانو ته د منابعو برابرولو لپاره خلاص لاس او د مرستو لويه برخه هم دوی برابروله، د ثبت په پروسه کې بيروکراټيکو خنډونو او کاغذپرانيو له تصميم نيونې نيولې تر لوړې کچې د حکومتي مقاماتو رحم و کرم ته اړې کړې وې. هر غوښتن‌ليک چې د ثبت د پروسې اړين اسناد يې نه وای پوره کړي، يا د کوم وزارت له لوري رد سوی وای، بيا نه منل کېده. که څه هم اوسنی راغلی حالت د افغانستان د تېر اسلامي جمهوريت د واکمني له مهال سره اصلا د پرتلې وړ نه دی، خو دا هم روښانه ده چې هغه مهال هم هغه نړيوالې ادارې چې غوښتل يې په افغانستان کې دننه کار وکړي، د ثبت په پروسه کې له خنډونو او ځنډونو سره لاس و ګرېوان وې. خو که بيا هم هماغه حالت له اوسني وضعيت سره پرتله سي، نو هغه حالت د اوس پر پرتله په مراتبو شفاف و او نادولتي سازمانونو ته يې د کار کولو خورا له خنډونو پاک ساحه جوړه کړې وه.



د نوملیکنې په دغسې انجړ مېکانیزم سربېره، د چارواکیو مالي توقعاتو او غوښتنو نه یوازې د ثبتېدونکیو موسسو شمېر کم کړی، بلکې بقا یې له خطر سره ور مخ کړې ده.    هره نړیواله نادولتي اداره چې غواړي په افغانستان کې فعالیت پیل کړي، مکلفه ده چې په یوه مشخص بانک کې ۳۰میلیونه افغانۍ د ضمانت په توګه کېږدي او که کومه اداره داسې وي چې مخکې یې هم په افغانستان کې فعالیت درلود او غواړي بېرته یې پیل کړي، ۱۰میلیونه افغانۍ ضمانت ورڅخه اخیستل کېږي.[38] د ۲۰۰۰م د سپټمبر د ۲۰مې نېټې د اسعارو د نرخ له حسابه، د هغو موسسو لپاره چې نوی په افغانستان کې کار پیلوي، دغه اندازه ۶۳۱۵ امریکایي ډالر کېږي. دغه مالي پېټي نه یوازې د نویو ادارو د جوړېدو مخه نیسي، بلکې هغوی چې په موقته توګه یې چارې درولې وي، له همدې امله یې بېرته پیلولو ته زړه نه ښه کوي او د دې ټولو په پایله کې د افغانستان خلک د ژوند له اساسي حقونو او ملاتړ څخه بې برخې دي.   د نادولتي موسسو د رجسټرېشن په برخه کې مالي او اداري خنډونه په دې سربېره، د طالب چارواکیو لپاره د موسسو د کنټرول په ابزارو اوښتي دي. همدا خنډونه او بندیزونه دي چې طالب چارواکیو ته دا زمینه برابروي چې په بېلابېلو برخو کې د دوی له مذهبي او سیاسي مفکورو سره د ټکر په صورت کې، د نادولتي سازمانونو د کار مخه نیسي.

تر نوملیکنه وروسته

د نوم لیکنې د پروسې تر بشپړېدو وروسته هم د نادولتي سازمانونو د عملیاتي چارو پر مخ د خنډونو او ستونزه یو بل پړاو پروت دی.  د نادولتي موسسو د مقرارتو په اساس، اداري مکلفې دي چې د مالي چارو لپاره د افغانستان بانکي سسټم وکاروي. دوی باید هم افغانۍ او هم بهرني اسعار د ضمانت په توګه په یوه ټاکل سوي بانک کې کېږدي.  پر ادارو دا مکلفیت هم اېښوول سوی چې د بهرنیو اسعارو شل فیصده یې باید په افغانیو واړوي.  له دې په ډاګه ښکاري چې طالبان څنګه د نادولتي موسسو له تهدابونو سره دښمني پالي.

د تمویل په چارو سربېره د نادولتي سازمانونو فعالیتونه هم د طالبانو له خوا په بشپړه توکه کنټرولېدي.  نادولتي سازمانونه مکلف ول چې د هرې پروژې تر پیل مخکې، هغه که لویه وه، یا کوچنۍ، خو باید خپل بشپړ کاري پلان یې د طالبانو له پلان وزارت سره شریک کړی وای او په دې ټولو پروسو او ارزونو کې هیڅ طبیعي معیار هم په پام کې نه نیول کېده.

په همدې اساس، د نوم لیکنې د پروسې په څېر، دغه پروسه هم ګام پر ګام د فساد او خپلسریو ښکار وه.[40] هغه مهال هم د نادولتي موسسو فعالیتونه یوازې تر "مالي او بشري مرستو" پورې محدود کړل سوي وو او د بشري حقونو، حکومتداري او حتا اساسي پرمختیایي چارو په برخو کې هم نادولتي سازمونونو ته د کار اجازه نه ورکول کېده.  د دغو مقرراتو په اساس، کورنۍ او بهرنۍ نادولتي موسسې مکلفې وې چې د افغانستان دودونو او مذاهبو ته احترام وکړي او له ټولو هغو فعالیتونو پرهېز وکړي چې له ملي ګټو سره په ټکر کې بلل کېدل.   دغې چارې په خپله طالب چارواکیو ته زمینه برابره کړې وه چې د نادولتي سازمانونو چارې کنټرول کړي او واک یې ورکړی و چې د دوی پر انګېرنو او تصمیمونو د هر ډول انتقاد مخه ونیسي.  په دې سربېره، د نادولتي سازمانونو کارکوونکي د طالب چارواکیو له خوا کلک څارل کېدل. د نادولتي موسسو بهرني کارکوونکي مکلف وو چې په افغانستان کې دننه له یو ځای څخه بل ته تر سفر کولو مخکې د کورنیو چارو وزارت خبر کړي. دغې چارې نادولتي موسسې حتا په خپلو ورځنیو چارو کې له خنډونو سره مخ کړې وې.  د طالبانو د تېرې واکمنې همدې قوانینو او مقرراتو دوی ته دا زمینه هم برابره کړې وه چې په خپل سر نه یوازې د ادارو فعالیتونه محدود کړي، بلکې د هغوی بقا له خپلو پرېکړو او تصمیمونو سره وتړي.

په ۲۰۲۱ کې واک ته د طالبانو تر رسېدو وروسته د دوی په لومړیو اقداماتو کې د نومونو اړول او له لوړو بستونو څخه د ښځو ایسته کول او ځای یې نارینه‌وو ته ورکول دا په ډاګه کوي چې دوی دا مهال هم له مدني سازمانونو سره هماغسې چلند کوي، لکه په خپله تېره واکمنې کې چې یې کاوه.   له همدې امله که څه هم د طالبانو د تېرې واکمنې پر مهال د لګول سویو بندیزونو ضمانت نه سته چې بیا به نه تکرارېږي، خو اوسنې هغه یې هم تر ډېرې کچې پخوانیو ته پاتې کېږي او داسې اندېښنې سته چې د ۲۰۰۰م کال مقرارت به بیا پلي کړي چې ورسره به د نادولتي سازمانونو فعالیتونه نور هم محدود سي.





# ۷. د افغان مدني ټولنې خوندیتوب ته د بشري حقونو نړیوال چارچوب

**مخکې تر دې چې طالبان د دویم ځل لپاره په افغانستان کې واک ته ورسېږي، د دغه هېواد جمهوري حکومت د بشري حقونو بېلابېل نړیوال تړونونه لاسلیک کړي وو.  د راپور دغه برخه د بشري حقونو د ساتنې او خوندیتوب په برخو کې هغه مکلفیتونه په ځان کې رانغاړي چې د افغانستان حکومت یې د نړیوالو پر وړاندې لري او د مدني ټولنې د فعالانو خوندیتوب تضمینوي. په دې سربېره، په دغه برخه کې پر دې هم غږیږو چې دغه تړونونه تر کومې کچې په افغانستان کې عملي سوي او بل دا چې د طالبانو جبر خپلو نړیوالو تعهداتو ته د ژمنتیا په ډګر کې افغانستان ته څومره زیان ور اړولی.**

### د افغانستان د معاهدې مکلیفتونه

د طالبانو لاس ته د افغانستان د لوېدو پر مهال دغه هېواد د بشري حقونو د اوو نړیوالو تړونونو غړیتوب درلود.[42] د دغو تړونونو د شرایطو په اساس، د افغانستان حکومت مکلف دی چې د تړونونو د مادو مطابق خپل قوانین او طرزالعملونه ورغوي.[43] طالبان د یوه چارسمبالي حکومت په توګه ټولو هغو تړونو او تعهداتو ته پر ژمنتیا مکلف دي چې افغانستان یې غړیتوب لري. که څه هم د طالبانو مشرانو علنې منلې ده چې د هغو نړیوالو قوانینو پرېکړو ته ژمن دي چې افغانستان یې غړیتوب لري، خو دا یې هم پسې ورزیاته کړې ده چې دوی د نړیوالو قوانینو او تړونونو یوازې هغو مادو ته ژمن دي چې له اسلام سره په ټکر کې نه وي.[44]





د بشري او سیاسي حقونو نړیواله معاهده یا (ICCPR) چې په پراخه کچه د مدني بنسټونو او ټولنو حقونه خوندي کوي، افغانستان یې په ۱۹۸۳ کې غړیتوب اخیستی دی.[45] هغه دولتونه چې د (ICCPR) غړیتوب لري، مکلف دي چې "د ټولو هغو بشري او سیاسي حقونو د خوندیتوب ډاډ ورکړي چې په دغه معاهده کې راغلي او په دغه برخه کې ټول اړین اقدمات هم وکړي."

د دغو مکلفیتونو په پایله کې؛ د افغانستان حکومت دا مسوولیت لري چې د خپلو ملي قوانینو په پلي کولو سره "نر او ښځو ته د دوی له خپلو ټولو مدني او سیاسي حقونو د مساوي استفادې زمینه برابره کړي" او دا تضمین کړي چې له دغو حقونو سرغړوونکي بې پوښتنې نه پاتې کیږي. په دغه معاهده کې د یادو سویو حقونو له ډلې دوه یې، یو په سولهییزه توګه د راغونډېدلو حق (۲۱مه ماده) او بل یې له نورو سره د پیوستون حق (۲۲مه ماده) د هغو کسانو لپاره چې غواړي مدني بنسټونه تاسیس کړي، یا د نورو سازمانونو له خدماتو استفاده وکړي، تر نورو ډېر مهم دي. دغه معاهده په دې سربېره، پر غړیو هېوادونو ټینګار کوي چې په خپلو حدودو کې د قانون حاکمیت یقیني کړي او د عامه او عادلانه محاکمو او د جرم تر اثبات پورې، د تورونو کسانو د حقونو او خوندیتوب لپاره مېکانیزمونه ورغوي.

هغه هېوادونه چې دغه تړون یې تصویب کړی وي، مکلف دي چې د تړون ټولې مادې عملي کړي او خپلو ولسونو ته د قوم، ژبې، نسل، رنګ، جنسیت، مذهب او سیمې په اساس له توپیرونو پرته، په مساوي توګه د دوی د حقونو خوندیتوب تضمین کړي.[46] د دغو مکلفیتونو څار د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمېټه کوي او هر پنځه کاله وروسته د خپلو موندنو راپور ورکوي.

د دغه تړون یو بل مهم مکلفیت د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو قرارداد یا (CEDAW) دی چې افغانستان یې په ۲۰۰۳ کال کې غړیتوب اخیستی دی. دغه قرارداد ښځو ته د نارینهوو په څېر د برابرو او مساوي حقوقي خوندیتوب پر ورکړه ټینګاره کوي او حکومتونه ټولو هغو اړینو اقداماتو پورته کولو ته هڅوي چې د روغتیا، کار، زدهکړو ته د لاسرسي او نورو ورته برخو کې د ښځو پرمختګ پرې یقیني کیږي. د تړون د وضعه سویو شرایطو په اساس، د تړون غړي دولتونه مکلف دي چې "د قانون جوړونې په ګډون، ټول هغه اړین او مناسب اقدامات وکړي چې د ښځو بشپړ پرمختګ تصمینوي."

په دې سربېره، هغه نور نړیوال تړونونه چې افغانستان یې غړیتوب لري، د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو د خوندیتوب معاهده یا (ICESCR) چې په افغانستان کې د زدهکړو، روغتیا او د ژوند نورو معیارونو ته د نرو او ښځو په مساوي لاسرسي ټینګار کوي. د ماشومانو د حقونو د خوندیتوب معاهده یا (CRC). د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو نړیواله معاهده یا (CERD). د شکنجو، بدرفتاریو، ظلم او توهین او تحقیر د مخنیوي نړیواله معاهده یا (CAT) او د معلولینو د حقونونو د خوندیتوب نړیواله معاهده یا (CRPD) دي چې د معلولیت له امله د تبعیض مخه نیسي.



## په طالبي واکمنۍ کې د بشري حقونو روان وضعیت

د ۲۰۲۱ په اګسټ کې د طالبانو لاس ته د افغانستان له لوېدو سره په دغه هېواد کې د بشري حقونو د ودې او خوندیتوب زوال پیل سوی دی. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوی ماموریت یا (UNAMA) په دغه هېواد کې د طالبانو له راګرځېدو را په دې خوا، د ناانساني چلند، خپلسرو نیونو او زنداني کولو، ناوړه چلند او ګواښلو ګڼ شمېر داسې قضیې ثبت کړې دي چې اصلي عاملان یې طالبان دي. په دې سربېره، د بیان ازادي په بې ساري توګه محدوده کړل سوې ده. طالبانو د ګڼ شمېر رسنیو د بندولو او په عامه توګه د داسې غونډو او مجلسونو په جوړولو خورا کلک بندیزونه لګولي دي چې د واک په برخه کې د دوی پالیسیانې او وضعه سوي محدودیتونه ننګوي.[47] دا هم د یادولو ده چې طالبانو پر ښځو په بلابېلو برخو کې تر حد ډېر فشارونه راوستي، تر دې چې تر لومړنیو زدهکړو پورته د نجونو او ښځو پر زدهکړو بندیزونه، له کار، روغتیایي اسانتیاوو، ازاد تګ راتګ او د کورني تاوتریخوالي پر مهال تر ملاتړ او مرستې ترلاسه کولو پورې ښځې د ژوند له بېخي اساسي حقونو څخه محرومې کړل سوې دي. د یوناما په وروستي راپور کې د ۲۰۲۱ د اګسټ له ۱۵مې نېټې د ۲۰۲۲ د جون تر ۱۵مې پورې، د طالبانو له خوا د بېپوښتنې وژنو ۲۱۸، په خپل سر د نیونو او زنداني کولو ۴۲۴ او د مخکېني حکومت د امنیتي او دفاعي پرسونل او مامورینو د شکنجو او ورسره ناوړه چلند ۱۴۴ پېښې ثبت سوې دي.

د طالبانو دغو چارو له یوې خوا پر افغان ټولنه د پام وړ ناوړه اغېز کړی دی او له بله پلوه دا هم په ډاګه کوي چې دوی د بشري حقونو د ساتنې په برخه کې د ور په غاړه نړیوالو او داخلي مکلفیتونو په کیسه کې هم نه دي. د ۲۰۲۱م په اګسټ کې واک ته د طالبانو له بیا رسېدو وروسته د دغې ډلې له خوا ډېرې صادر سوي فرمانونه او قوانین د هغو نړیوالو مکلفیتونو ښکاره نافرماني ده چې افغانستان یې لري. د ۲۰۲۲م په ډسمبر کې د طالبانو د اقتصاد وزارت په نادولتي سازمانونو کې د ښځو پر کار کولو بندیز ولګاوه. د کار له ساحې څخه د ښځو ایسته کول په دې خاطر چې دوی ښځې دي او بیا ښځو ته پر دې سزاګانې ورکول چې ولې په مدني چاپېریال کې فعالیت کوي، د CEDAW ،ICCPR، او ICESCR معاهدو له پرېکړو څخه څرګنده سرغړونه ده. د ښځو په عامه فعالیتونو بندیزونه د بیان د ازادي په برخه کې د (CCPR) د معاهدې له ۲۲مې مادې، د سولهییزو راټولېدنو د حقونو په اړه د همدې معاهدې له ۲۱مې مادې او له نورو سره د پیوستون د حقونو په اړه د همدې معاهدې له ۲۲مې مادې څخه ښکاره سرغړونې دي. په دې سربېره، د UDHR, ICESCR اوCEDAW د تړونو ټول غړي هېوادونه نه یوازې مکلف دي چې د زدهکړو او کار په برخو کې د ښځو حقونه خوندي کړي، بلکې د CEDAW او ICESCR معاهدې روغتیایي اسانتیاو ته د ټولو د مساوي او برابر لاسرسي د چمتو کولو مسوولیت هم ور په غاړه دی.

د مدني بنسټونو د چلولو، ملاتړ او د دوی خدماتو ته د لاسرسي په برخه کې پر ښځو محدودیتونه له ټولو هغو مکلیفتونو څخه سرغړونه ده چې د نړیوالو تړونونو غړي حکومتونه یې لري. دوی مکلف دي چې نه یوازې د دغو حقونو ساتنه وکړي، بلکې د هغو ډلو او کسانو پر وړاندې اقدامات هم ور په غاړه دي چې له دغو حقونو سرغړونې کوي. طالبان د یوې واکمنې ډلې په توګه نه یوازې د خپلو ټولو هغه صادرو سویو فرمانونو او احکامو مسوول دي چې په افغانستان کې د جنسیتي تبعیض لامل سوي، بلکې په دې سربېره یې، د بشري حقونو د ساتنې او هغو کسانو ته د مجازاتو په برخه کې چې دغه حقونو ګواښي، د افغانستان له نړیوالو تعهداتو سرغړونه کړې. په هغو ټولو نړیوالو تعهداتو سربېره چې طالبانو د ۲۰۲۱م په اګسټ کې واک ته له بیا رسېدو وروسته تر پښو لاندې کړي دي، دوی په نادولتي بنسټونو کې د ښځو په کار کولو له بندیز لګولو نیولې، تر زنداني کولو، د بیان په ازادي پابندي لګولو، ناوړه چلند، د شخصي حریم نقضولو او شکنجو په واسطه د افغانستان د ۱۹۶۴م د اساسي قانون چې ظاهرا د ملي قوانینو د سرچینې په توګه استفاده کیږي، له ډېرو مادو سرغړونې کړې دي.



# VI. پایلې

**په داسې حال کې چې په افغانستان کې هیڅ رسمي مدني جوړښت پر ځای نه دي پاتې، د سیمې او محل په کچه نوي راټوکېدلي مدني بنسټونه د طالبانو تر جبر لاندې، لا هم خپلو فعالیتونو ته په درست وطن کې په پټه دوام ورکوي. دوی د ښځو او نجونو لپاره د زده کړو، د ښځو د حقونو او ازادیو، اساسي خدماتو ته د لاسرسي او د بشري حقونو ساتنې ته په دغسې ملي، ټولنیز، سیاسي او اقتصادي ناورین کې دوام ورکوي. د افغانستان د مدني بنسټونو او فعالانو دغه فعالیتونه دا په ډاګه جوتوي چې دوی حتا د طالبانو له سختو بندیزونو سره سره هم خپلې مبارزې ته ژمن دي.**

د افغانستان مدني بنسټونه او غړي یې په خپلو ټولنو کې د بشري حقونو د ساتنې او پراختیا او د ښځو او منزوي ټولنو د حقونو د خوندیتوب په برخو کې د پام وړ اغېزناک رول لوبوي. دغه بنسټونه چې د ژمنو اشخاصو او کوچنیو ګروپونو له خوا جوړ سوي دي، د ټولنو له لارې د ټولنیز عدالت قایمولو ته کار کوي. دوی له محدودو وسایلو او شته کمو امکاناتو سره بیا هم توانېدلي دي چې ټولنیز صفونه برابر، پوهاوی خپور او د سیمې په کچه اغېزناکو بدلونونو ته لاره هواره کړي.

په هر صورت، په خورا محدودو مالي او عملیاتي امکاناتو او سختو امنیتي ګواښونو او ننګوونو کې د دغو مدني بنسټونو پر کړي او روان کار سترګې نه سي پټېدای. د دوی ځینې یې د طالبانو له خوا مجبوره کړل سوي دي چې خپلې چارې په ټپه ودروي، خو پاتې نور بنسټونو بیا لا هم په محدودو ساحو کې محدودې چارې سر ته رسوي. په دې خاطر چې دا یقیني سي چې د دغو بنسټونو روانې چارې به نه درېږي او لا به پسې پراخېږي، دوی په پراخه کچه د نړیوالو شریکانو او د افغانستان د جلاوطنې مدني ټولنې ملاتړ او لاسنیوي ته اړتیا لري.

که له دغو بنسټونو سره هم د ظرفیت جوړونې او هم په مالي برخو کې همکاري وسي، دوی کولای سي خپلې مهمې چارې روانې وساتي او په خپلو ټولنو کې مثبتو بدلونو ته لاره هواره کړي. په دې سربېره، د دغو مدني بنسټونو لپاره د داسې یوه مناسب چاپېریال جوړول اړین او ضروري دي چې دوی پکې له وېرې او محدودیتونو پرته وده وکړي. تر دې ورهاخوا د دوی د حقونو لپاره غږ پورته کول، د دوی خوندیتوب او دا یقیني کول چې دوی باید د هماغه مېز ګډنوال وي چې د دوی د ټولنو د راتلونکي په اړه خبرې ورباندې کېږي، یا پرې تصمیم نیول کېږي، له ضروري اړتیاوو دي. په افغانستان کې د یوې ټول‌شموله او باثباته ټولنې جوړولو، د سته ستونزو د حل او د متبادلو افکارو د ودې لپاره، هلته د نویو راټوکېدلیو مدني بنسټونو اندونو او نظرونو ته پاملرنه ضروري ده.



# VII. سپارښتنې

**د دغه راپور سپارښتنې مخامخ، بسپنه ورکوونکې ټولنې، هغو نړیوالو سازمانونو ته چې لا هم په افغانستان حضور لري، حکومتونو، ملګرو ملتونو او اړوندو نړیوالو ادارو ته یې، د افغانستان د مدني ټولنې جلاوطنو غړیو او نورو نړیوالو نادولتي موسسو ته راجع دي.**

**بسپنه ورکوونکې ټولنه:**

- په افغانستان کې د مدني فعالانو او په ځانګړې توګه د هغو ښځو د ملاتړ په موخه چې د طالبانو د کاري بندیزونو له امله یې د عاید سرچینې ترل سوې، د مالي ملاتړ د تر لاسه کولو پروسه اسانه او ساده کړئ.
- د ټولنې په کچه د خیرخواهي او نورو کمپاینونو د ملاتړ په موخه، له مدني خوځښتونو سره د بسپنې د کوچنیو او درمیانه بستو یا ګرانټونو مرسته وکړئ.
- د مېرمنو په مشري اجتماعاتو ته د ځانګړې پاملرنې تر څنګ، د هېواد په کچه خلکو ته د رسیدګي په خاطر د مدني بنسټونو پراختیا او ظرفیت لوړونې ته بودیجه ځانګړې کړئ.
- د هغو مدني فعالانو د رواني ډاډ او سلامتیا لپاره ځانګړې بودیجه مشخصه کړئ چې د افغانستان په څېر ننګوونکي چاپېریال کې، چې هره لحظه د طالبانو د برید له ګواښ سره مخ وي، په پټه او ښکاره خپلې مبارزې ته دوام ورکوي.
- په سیمه کې د فعالو مدني بنسټونو ملاتړ ته اولویت ورکړئ چې دا یقیني سي چې هغوی د خپلو حیاتي چارو د سر ته رسولو لپاره مرسته تر لاسه کولای سي. د مالي ملاتړ لپاره د پروپوزل لیکنې پروسه ساده کړئ چې د نویو راټوکېدلیو بنسټونو لاسرسی ورته اسانه سي، ښایي هغوی د پروپوزل د تدوین محدوده وړتیا ولري.



### هغه نړیوال سازمانونه چې په افغانستان کې حضور لري:

- مدني بنسټونو ته د اداري پراختیا، پروګرام جوړونې، ډیجیټل او فزیکي خوندیتوب، د پروژو مدریت او ارتباطاتو په برخو کې د ظرفیت لوړونې ټرینګونه جوړ کړئ چې په واسطه یې دوی هم خپلې چارې په اغېزناک ډول سر ته ورسوي او هم د خپلو ټولنو د حقونو او اړتیاوو پوره کولو لپاره سمه خیرخواهي وکړي.
- له طالبانو او نړیوالې ټولنې سره د خبرو اترو پر مهال د منزوي سویو اقلیتونو د غږ پورته کولو تر څنګ، ځایي مدني ټولنې او د ښځو په مشري خوځښتونه په پلان جوړونه کې دربنکېل او د تصمیمګیري په غونډو کې د ګډون زمینه ورته برابره کړئ.
- دا تضمین کړئ چې په UDHR او د ملګرو ملتونو په نورو معاهدو کې د یادو سویو حقونو درناوی د دوی په خپلو اړوندو ادارو کې په سمه توګه کېږي. دا چاره به په افغانستان کې د دغو حقونو د ساتنې او خوندیتوب په برخه کې نه پر شا کېدونکې ژمنتیا یقیني کړي.

### حکومتونه:

- دا یقیني کړئ چې د افغانستان د راتلونکي په اړه په جوړېدونکیو ټولو بحثونو، ټریبیونونو او تصمیم نیونو کې افغانو ښځو ته برخه ورکول کېږي او دا ډاډ هم باید تر لاسه سي چې په دغسې غونډو کې د ګډون لپاره د دوی خوندیتوب ته هم تدابیر نیول سوي دي.
- په سیمه‌ییزو ټولنو کې د بشري حقونو اړوند فعالیتونو او پروژو د ودې او پراختیا په خاطر، هلته فعالو مدني بنسټونو ته اوږدمهالې بودیجه ځانګړې کړئ.
- پر طالبانو فشار راوړئ چې د مدني خوځښتونو د حقوقو درناوی وکړي. دا به دوی د دې جوګه کړي چې د افغانستان ولس ته د خیرخواهي چارې په بې غمي سر ته ورسوي.
- پر طالبانو غږ وکړئ چې ژر تر ژره د هغو مدني فعالانو نیول، شکنجه کول او وژل ودروي چې د خپلې ټولنې پرمختګ ته ژمن دي. دغو اهدافو ته په افغانستان کې د رسېدو لپاره، دوامدار نړیوال فشار او خیرخواهي ضروري دي.
- پر طالبانو او د دوی په څېر نورو ګروپونو چې له بشري حقونو څخه په منظمو سرغړونو کې ښکېل دي، نه یوازې بندیزونه زیات کړئ، بلکې د دې سرغړونو ځواب ویلو ته یې کښېنوئ.
- د طالبانو له خوا د نیول کېدونکیو مدني فعالانو د خوشې کېدو او خوندیتوب لپاره قوي خیرخواهي وکړئ او طالبانو ته ګوته وځنډئ چې د خپلو اعمالو سزا به ویني.
- د افغانستان هغو مدني فعالانو ته چې د طالبانو په واکمنۍ کې یې ژوند په خطر کې دی، دربېمو هېوادونو ته د تګ د وېزو په ګډون، له افغانستانه د وتلو خوندي او ګړندی لارې ولټوئ.

### ملګري ملتونه:

- د مدني فعالانو خوندیتوب ته لومړیتوب ورکړئ او د طالبانو له خوا د نیولو کېدو پر وخت یې، سمدستي د راخوشې کولو اقدامات وکړئ.
- په افغانستان کې د یوناما د ستراتیجي جوړولو او له طالبانو سره د دغه ماموریت تعامل ته د بنې ورکولو په موخه د هلته فعالو مدني بنسټونو په ګډون د افغانانو له بېلابېلو ډلو او ګروپونو سره د منظمو مشورو لړۍ پیل کړئ. له طالبانو سره د هر ډول تعامل پر مهال د دغو متنوعو ډلو اصولو او شرایطو ته لومړیتوب ورکړئ او دا یقیني کړئ چې د افغانانو د مختلفو ټولنو غږونه اورېدل سوي او د یوناما له ماموریت سره همغږي سوي دي.

### تعبید سوې افغان مدني ټولنه او نور نادولتي سازمانونه:

- د ښځو د مدني ټولنو او هغو ښځینه اعتراض کوونکیو غږ پورته کړئ چې لا هم په افغانستان کې دننه خپلو فعالیتونو ته دوام ورکوي. دا یقیني کړئ چې د افغانستان د ټولنیز او سیاسي برخلیک په ټاکلو کې د دوی د شمولیت او مساوي ګډون ټولې غوښتنې اورېدل سوې او د نړیوالې ټولنې له خوا په غوږ کې نیول سوې دي.
- په افغانستان کې فعالو مدني بنسټونو او غړیو ته یې د دوی د ظرفیت لوړونې وسایل چمتو کړئ او د رهنمایي په شکل ورسره کمک وکړئ چې خپلې چارې دوامدارې او پراخې کړي. د دې په خوا کې د تصمیم ګیري په پروسو کې د دوی ګډون ته زمینه مساعده کړئ.
- د هغو مدني فعالانو لپاره چې د غږ پورته کولو له امله یې په افغانستان کې ژوند په خطر کې دی، د وېزو او له افغانستانه د وتو خوندي لارې ولټوئ او په هغو هېوادونو کې یې د ځای پر ځای کېدو غم وخورئ چې دوی نوي ورځې او له هغه ځایه خپلې چارې بېرته پیلوي.
- له ملګرو ملتونو او حکومتونو څخه خپلې خیرخواهي ته دوام ورکړئ چې په افغانستان کې په پرله‌پسې توګه د بشري حقونو او په ځانګړې توګه (د ښځو د حقونو) وضعیت وارزوي او په دې سربېره، طالبان او نور هغه کسان چې له بشري حقونو سرغړونې کوي، حساب ته کښېنوي.



# منابع


1. Bureau of South Asian Affairs; 'Elections in Afghanistan', U.S. Department of State Archives; 16 September 2005; https://2001-2009.state.gov/p/sca/rls/fs/2005/53381.htm. Inter-Parliamentary Union, 'Afghanistan: Wolesi Jirga (House of Representatives), Elections in 2005'; last accessed on March 29, 2024; http://archive.ipu.org/parline-e/reports/arc/2381_05.htm.
2. "Afghanistan: Freedom in the World 2020." Freedom House. 2020. https://freedomhouse.org/country/afghanistan/freedom-world/2020
3. Turner, M., 2022. 'Opinion: A Year after US withdrawal, women in Afghanistan need our help'. *Austin American Statesman*, September 18, 2022. https://www.statesman.com/story/opinion/columns/2022/09/18/afghan-women-are-under-repression-and-need-international-intervention/69498021007/
4. "You Have No Right to Complain": Education, Social Restrictions, and Justice in Taliban-Held Afghanistan'; *Human Rights Watch*; June 30, 2020. https://www.hrw.org/report/2020/06/30/you-have-no-right-complain/education-social-restrictions-and-justice-taliban-held.

'"I Wont Be a Doctor, and One Day You'll Be Sick": Girls' Access to Education in Afghanistan'; *Human Rights Watch*; October 17, 2017. https://www.hrw.org/report/2017/10/17/i-wont-be-doctor-and-one-day-youll-be-sick/girls-access-education-afghanistan.

5. 'Education in Afghanistan'; USAID; November 8, 2018. https://web.archive.org/web/20181110231403/https:/www.usaid.gov/afghanistan/education
6. Mitchell, D. F., 2017. 'NGO Presence and Activity in Afghanistan, 2000-2014: A Provincial-Level Dataset'. *Stability: International Journal of Security & Development*, 6 (1): 5, pp1-18, DOI: https://doi.org/10.5334/sta.497
7. Anand, A.; 'What did Afghan NGOs Achieve?'; *Civil Society Online*; last accessed April 1, 2024; https://www.civilsocietyonline.com/column/here-now/what-did-afghan-ngos-achieve/
8. Deliso, M., Cohen, M., Martinez, L. and Watts, J.; 'What we know about US service members killed in Kabul Airport Attack'; *ABC News*; August 28, 2021; https://abcnews.go.com/US/us-service-members-killed-kabul-airport-attack/story?id=79685589
9. Bettencourt, A.; 'Grassroots organizations are just as important as seed money for innovation'; *UNHCR Innovation Service*; last accessed April 1, 2024; https://www.unhcr.org/innovation/grassroots-organizations-are-just-as-important-as-seed-money-for-innovation/
10. Eqbal, S.; 'Women's Rights Activist, Zarifa Yaqoubi, Released After Over 5 Weeks of Detention'; *The Khaama Press News Agency*; December 12, 2022; https://www.khaama.com/womens-rights-activist-zarifa-yaqoubi-released-after-over-5-weeks-of-detention-46753/
11. شهادت ظریفه یعقوبی، از شکنجه و آزار فعالینkjjyfالبان; *Afghanistan International*; March 1, 2024; https://www.youtube.com/watch?v=ZOgpWnXMGBk
12. ibid.
13. '"No Forgiveness for People Lie You": Executions and Enforced Disappearances in Afghanistan under the Taliban'; *Human Rights Watch*; November 30, 2021; https://www.hrw.org/report/2021/11/30/no-forgiveness-people-you/executions-and-enforced-disappearances-afghanistan
14. Popalzai, E., Akbarzai, S. and Tawfeeq, M.; 'Taliban orders NGOs to ban female employees from coming to work'; *CNN World*; December 25, 2022; https://edition.cnn.com/2022/12/24/asia/taliban-female-employees-ngos-intl/index.html
15. Doucet, L.; 'Afghanistan: Taliban to set new rules on women's aid work, UN says'; *BBC News*; January 25, 2023; https://www.bbc.com/news/world-asia-64387391
16. Wintour, P.; 'Afghan aid at risk from Taliban ban on women warns United Nations'; *The Guardian*; January 6, 2023; https://www.theguardian.com/world/2023/jan/06/afghan-aid-at-risk-from-taliban-ban-on-women-warns-united-nations
17. 'Life and Death: NGO access to financial services in Afghanistan'; Norwegian Refugee Council; January 2022; https://www.nrc.no/globalassets/pdf/reports/life-and-death/financial-access-in-afghanistan_nrc_jan-2022.pdf
18. 'Non-Governmental Organizations: Annual Report 2018'; Islamic Republic of Afghanistan Ministry of Economy: Directorate of NGOs; January 27, 2021; https://ngo.gov.af/assets/NGOsReportEnglish.pdf
19. 'Afghanistan: Young People'; *UNFPA*; last accessed on April 1, 2024; https://afghanistan.unfpa.org/en/node/15227#:~:text=About%2063.7%20percent%20of%20Afghans,young%20people%20is%20slowly%20emerging
20. Hazim, M.; 'Going Back to Zero: How the Afghan Legal and Judicial System is Collapsing Under the Taliban Regime'; *Jurist: Legal News & Commentary*; March 7, 2022; https://www.jurist.org/commentary/2022/03/mahir-hazim-afghan-legal-judicial-system-collapsing-taliban-regime/ https://www.constituteproject.org/constitution/Afghanistan_2004.pdf?lang=en
21. 'Afghanistan's Constitution of 2004'; *Constitute Project*; last accessed July 6, 2023; https://www.constituteproject.org/constitution/Afghanistan_2004.pdf?lang=en
22. Hazim, M.; 'Going Back to Zero: How the Afghan Legal and Judicial System is Collapsing Under the Taliban Regime'; *Jurist: Legal News & Commentary*; March 7, 2022; https://www.jurist.org/commentary/2022/03/mahir-hazim-afghan-legal-judicial-system-collapsing-taliban-regime/

.23 The Taliban plans to adopt the 1964 constitution of Afghanistan. Terms and conditions apply'; *Times Now Digital*; September 30, 2021;' https://www.timesnownews.com/international/article/the-taliban-plans-to-adopt-the-1964-constitution-of-afghanistan-terms-and-conditions-apply/818801https://www.voanews.com/a/taliban-say-they-will-use-parts-of-monarchy-constitution-to-run-afghanistan-for-now/6248880.html

.24 ;Afghanistan's Constitution of 1964; *Constitute Project*;, last accessed July 6, 2023' (Afghanistan 1964 Constitution - Constitute (constituteproject.org

.25 ;Gul. A; 'Taliban Say They Will Use Parts of Monarchy Constitution to Run Afghanistan for Now'; *VOA News*; September 28, 2021 https://www.voanews.com/a/taliban-say-they-will-use-parts-of-monarchy-constitution-to-run-afghanistan-for-now/6248880.html

.26 .ibid

.27 Hazim, M.; 'Going Back to Zero: How the Afghan Legal and Judicial System is Collapsing Under the Taliban Regime'; *Jurist: Legal News & Commentary*; March 7, 2022; https://www.jurist.org/commentary/2022/03/mahir-hazim-afghan-legal-judicial-system-collapsing-taliban-regime/

.28 ;Tracking the Taliban's (Mis)Treatment of Women'; *United States Institute of Peace*; last accessed February 26, 2024' https://www.usip.org/tracking-talibans-mistreatment-women

Afghanistan: Taliban directives and decrees affecting human rights and humanitarian actors'; *acaps*; April 21, 2023; https://www.acaps.org/' fileadmin/Data_Product/Main_media/20230424_acaps_thematic_report_afghanistan_taliban_directives_and_decrees_0.pdf

.29 ;The Taliban's beauty salon ban will be major blow to women's financial independence'; *SBS News*; July 21, 2023' https://www.sbs.com.au/news/article/the-talibans-beauty-salon-ban-will-be-a-major-blow-to-womens-financial-independence/0im1h396ghttps://cof.org/country-notes/nonprofit-law-afghanistan

.30 ;Five things you should know about Afghanistan'; *UNHCR USA*; August 15, 2022' https://www.sbs.com.au/news/article/the-talibans-beauty-salon-ban-will-be-a-major-blow-to-womens-financial-independence/0im1h396g

.31 Nonprofit law in Afghanistan'; *Council on Foundations;* October 2022; https://cof.org/country-notes/nonprofit-law-afghanistan'

.32 .ibid

.33 .ibid

.34 NGOs Law' (Article 35(2)); Islamic Emirate of Afghanistan, Ministry of Economy, Directorate of Non-Governmental Organizations (NGOs); last' accessed April 3, 2024; https://ngo.gov.af/en/ngos-law/

.35 (ibid. (Article 36

.36 ;Moore, D.; 'Taliban Governance of NGOs – What to Expect and How to Respond'; *Just Security*; October 15, 2021 /https://www.justsecurity.org/78590/taliban-governance-of-ngos-what-to-expect-and-how-to-respond

.37 NGOs Law' (Article 19); Islamic Emirate of Afghanistan, Ministry of Economy, Directorate of Non-Governmental Organizations (NGOs); last' accessed April 3, 2024; https://ngo.gov.af/en/ngos-law/

.38 ;Moore, D.; 'Taliban Governance of NGOs – What to Expect and How to Respond'; *Just Security*; October 15, 2021 /https://www.justsecurity.org/78590/taliban-governance-of-ngos-what-to-expect-and-how-to-respond

.39 .ibid

.40 .ibid

.41 NGOs Law'; Islamic Emirate of Afghanistan, Ministry of Economy, Directorate of Non-Governmental Organizations (NGOs); last accessed April 3,' 2024; https://ngo.gov.af/en/ngos-law/

.42 Ratification of 18 International Human Rights Treaties'; *United Nations Human Rights, Office of the High Commissioner*; last accessed April 3,' 2024; https://indicators.ohchr.org/

.43 Huquq and Human Rights'; *Afghanistan Ministry of Justice*; last accessed April 4, 2024; https://moj.gov.af/en/huquq-and-human-rights'

.44 ;Gul. A; 'Taliban Say They Will Use Parts of Monarchy Constitution to Run Afghanistan for Now'; *VOA News*; September 28, 2021 https://www.voanews.com/a/taliban-say-they-will-use-parts-of-monarchy-constitution-to-run-afghanistan-for-now/6248880.html

.45 ;The United Nations Human Rights Treaty System'; *United Nations Human Rights, Office of the High Commissioner*; 2012' https://www.ohchr.org/sites/default/files/Documents/Publications/FactSheet30Rev1.pdf

.46 Under Article 4 of the ICCPR, it is possible for a party to this convention, such as Afghanistan, to derogate from their commitments in a time of "public emergency which threatens the life of the nation", which must have been publicly proclaimed. Furthermore, certain rights, including the rights to life and recognition as a person before the law, along with prohibitions on torture, inhumane or degrading treatment, slavery and arbitrary or unlawful interference with privacy, family or the home, cannot be derogated from in any instances. However, notably, the equal right of men and women to all civil and political rights, along with the right to equality without discrimination before the law, could be derogated from in these circumstances. However, despite considerable upheaval across the social, political and economic landscape of Afghanistan, no "state of emergency" has been declared by the Taliban in recent years nor has the proper procedure for triggering Article 4 been complied with, meaning .that derogation is not possible





.47 A barrier to securing peace: Human rights violations against former government officials and former armed force members in Afghanistan: 15' ;August 2021 – 30 June 2023'; *United Nations Assistance Mission in Afghanistan*; 2023 https://unama.unmissions.org/barrier-securing-peace-hr-violations-against-former-government-officials-former-armed-force-members

.48 Popalzai, E., Akbarzai, S. and Tawfeeq, M.; 'Taliban orders NGOs to ban female employees from coming to work'; *CNN World*; December 25, 2022; https://edition.cnn.com/2022/12/24/asia/taliban-female-employees-ngos-intl/index.html


FREEDOM NOW
Hogan Lovells
www.hoganlovells.com
هوګن لوولز يوه نړيواله حقوقي دستګاه ده چې «هوګن لوولز انټرنيشنل ايل ايل پي، هوګن لوولز يو ايس ايل ايل پي او د دوی اړوند شرکتونه يې غړيتوب لري.
د «شريک» کلمه نه يوازې يادو دوو شرکتونو، بلکې د دوی اړوندو ادارو، کارکوونکيو او سلاکارانو ته هم په يوه ډول کارول کيږي.
هغه اشخاص او کسان چې د دغو دوو شرکتونو غړيتوب نه لري، خو شريکان بلل سوي، د دوی په څېر صلاحيت نه دی ورکول سوی.
د هوګن لوولز، شريکانو او د هغوی د صلاحيتونو په اړه د لا زيات پوهاوي په خاطر زموږ وېبپاڼې (www.hoganlovells.com) ته سر ورښکاره کړئ. هلته خپاره مطالب په ډاګه کوي چې د قضيو پايلې د شريکانو او مشتريانو لپاره متفاوتې دي.
په وېبپاڼه کې حقوقي اعلانات، د هوګن لوولز د مخکېنيو او برحاله کارکوونکيو او نورو خلکو انځورونه په موږ پسې اړه نه لري.
هوګن لوولز 2024. ټول حقوق خوندي دي. 14508©